Kandahar. Kabul
Vol.11, No.7, Mizan 1349
(September 1970)

کندهار

دافغانی سری میاشتی دټولنی عالی رئیس والاحضرت
شهزاده احمدشاه چی ددوی په خاصه پاملرنه سره دسرې
میاشتی مؤسسه پر مخ تللی او تعاونی خدمتونو ئې
زیات انکشاف موندلی دی

کندهار

د ۱۳۴۹ لمریز کال د تلی میاشت

د سری میاشتی

د تجلیل په مناسبت

که څه هم په انسانانو کی د یوی خوا د خودی روحیه روزل شویده او د لرغونو زمانو په ادوارو کی د ډول ډول خواهشاتو د ترسر کولو په ملحوظه ئی د شخړو او تیریو په

وجه د وینو تویولو څخه ځانونه نه دی ژغورلی خو د بلی خوا ئی بیا په هغه اندازه د انسانی فضیلت په برکت د بشر دوستی او نوعه پروری د روحیی له کبله ئی د زړه

سوی او د خیر انډول د لاسه ندی ورکړی کوم شی چی د انسانی ټولنو د مصیبت او ربړونو موجب گرزیدلی دی نو تل ئی هغو آفاتو ته په ممکنو وسایلو سره تدبیرونه نیولی دی څو بشر وکړای سی په هره وسیله سره چی وی د طبیعی حوادثو او نوروزیانونو په مقابل کی مجادله وکړی او هغه مصیبتونه چی د بشری ژوند تهدید وی د

هغه مخنیوی وکړی تاریخی شواهدو په لرغونی نړی کی د انسانی ټولنو د غمجنو واقعاتو بیلو بیلو پیښو هنداره موږ ته په لاس کی راکوی خو څو مره چی بیا د دغو پیښو پر سالم محور رڼا واچول سی موږ ته په عین حال کی

جهان بینی را په نصیب کوی که څه هم د بشر غیر انسانی اعمالو او بی رحمانه کارونو ته بشر دوستو خلکو په کرکه کتلی دی نو ځکه د پورتنی لنډی مقدمی څخه

خپل د مطلب مخه د خیر او بشر خوښولو خواته راگرزه ؤ چی هغه د بشری ټولنو سپیڅلی ضمیر او د بشر دوستو انسانانو د انسانی کرامت ښکارندوی هانری دونانت

دی چی په ۱۸۲۸ کال کی د ژنیو په ښار کی پیدا اولوی شویدی.

کله چی ئی د ۱۸۸۹ کال د جون په ۲۴ نیټه د فرانسی او اتریش د قواؤ ترمنځ جگړه

پیښه شوه او پدغه ورځ د مؤرخینو په قول په دوه اړخیځ ډول څلویښت زره تنه مړی یا ټپیان د جگړی پر میدان پاته شول نو هانری دونانت

د انسانی عاطفی د احساس له مخی د یوه بین المللی تجویز په هڅه کی شو او د

ټولو بشر دوستو انسانانو څخه ئی د اهیله وکړه څو باالاخره پدی عالی مفکوری بریالی شو او د بین المللی

سره صلیب په نامه سره یوه مؤسسه تاسیس شوه نو ځکه دغه د بشر خواخوږی او د عالی فکر څښتن د نمانځنی وړ بولو چی د ده د دغه نیک

اقدام له برکته د نړۍ په اکثرو هیوادو کی په مختلفو نومو نو سره داسی عام المنفعه څانگی یو په بل پسی تأسیس شوی چی پدی لړ کی زموږ

په گران هیواد افغانستان کی دغه مؤسسه د سری میاشتی په نامه یادیږی او تراوسه پوری ئی د خپل عالی رئیس

والاحضرت شهزاده احمد شاه په لار ښودنه د انکشاف او پر مختگ پر لور گړندی گامونه اخیستی دی چی په

د ننه هیواد او د باندی هیوادو کی ئی په خپل تکاملی سیر کی د مصیبت ځبلو سره د زیاتو همکاریو او خدماتو مصدر گرزیدلی ده.



صدراعظم ښاغلی نور احمد اعتمادی دهیواد شمالی سیمو ته په خپل وروستی سفر کی
په هغه وخت کی چی په شبرغان کښی د نفتو او گاز ودېرمه کاری جریان گوری

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 APR 2005

دامتیازخاوند :دطلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسؤل مدیر: زلمی (بارک)

کندهار
میاشتنی خپرونه
ادبی ،تاریخی ،اجتماعی ،علمی
اداره: دشهیدانو واټ
دتاسیس کال ۱۳۳۹
دیوولسم کال اوومه گڼه
پرله پسی گڼه ۱۳۱

کالنی بیه
په کندهار کی [۲۸] افغانی
دهیواد په داخل کی [۳۲] «
په دباندنیو هیوادو کی یوډالر
دتلی میاشت
۱۳۴۹ لمریز کال

ددې گڼې مضامین

دسری میاشتی دتجلیل په مناسبت سر مقاله دپشتی دوهم مخ
یوه ستره ضایعه ۱ مخ
زموږ اجتماعی اوملی وظیفی ۴ مخ
عصبی نظام ۵ مخ
دپښتو په تاریخ یوه رڼا ۷ مخ
دانسانانو بیل نژادونه څه ډول تشکیل شوه؟ ۱۴ مخ
دادب وږمی ۱۵ مخ
ښاغلی نعمانی ۱۹ مخ
ارسطو اودهغه فلسفی معضلی ۲۱ مخ
دالماسو اصلیت اوماهیت ۲۴ مخ
دخیانت جزا ۲۸ مخ
دسهار رڼا دپشتی دریم مخ

یوه ستره ضایعه

د تلی په ۸ نیټه زموږ د یوه نیژدې دوست اسلامی هیواد متحد عربی جمهوریت ستر ملی قاید او محبوب جمهور رئیس جمال عبدالناصر د زړه د درېدو له کبله په قاهره کی سترګی له جهان څخه پټی کړی او په خپل ناڅاپه او بی وخته مړینی سره ئې نه یوازې د متحد عربی جمهوریت د یرش ملیونی ملت سخت غمجن کړ، بلکه ټول عربان او مسلمانان، د آسیا او افریقی خلک د ده په فقدان زیات خواشینی شول.

د متحد عربی جمهوریت د لوی لیډر، مدبر لارښوونکی او اجتماع پرست شخصیت په مړینی سره د نړۍ د لویو هیوادونو لکه امریکی شوروی اتحاد، انګلیستان، فرانسی، او نورو زیاتو هیوادونو سترو

ښاغلی جمال عبدالناصر د مصر جمهور رئیس پسله هغه چی په سکندریه کی ئې د سویز کانال د ملی کیدو اعلام وکړ قاهرې ته د بیرته راتلو په وخت کی د هغه ځای د آزادی غوښتونکو خلکو له خوا په ډیر جوش ؤ خروش سره استقبال کیږی دا عکس تا سو ته د مصر د فقید جمهور رئیس د هغی تاریخی ورځی خاطره در پیاد وی

حکومتی مشرانو او د ملګرو ملتونو د ستری بین المللی مؤسسی سرمنشی او تانت خواشینی څرګنده کړه او د هغه فقدان په تیره بیا پدغه حساس ګړی کی چی د منځنی ختیځ حالات ډیر وخیم او تر اوسه پوری د حل عادلانه لارنده ورته پیدا شوی او د جمال عبدالناصر غوندی محبوب عربی لیډر وجود د دغو خړ پړ تیاؤ، او د اسرائیلو او عربو د اختلافونو لیری کولو او په خپله د عربو ترمنځ د یووالی په منځ ته راوستلو کی ډیر غنیمت او اغیزه ناک ؤ یوه ستره جهانی ضایعه او نه تلافی کیدونکی جبران دی او هغه خلاچی په مصر، عربی ټولنی او حتی ډیرې کښی د ده په فقدان سره پیدا شوی ده په ډیر مشکل سره ډکیدای شی.

جمال عبدالناصر د متحد عربی جمهوریت هغه زوړ مشر د کلکی ارادی خاوند او نیشنلیست لیډر ؤ چی د خپلی انسانی مینی، اجتماعی خدمت او وطن دوستی د لاری ئې په لږ وخت کی د عربو او د نړۍ د زیاتو انسانانو په زړونو کی ځای ونیوی د عربی متحد جمهوریت او عربی نړۍ له پاره یی نه هېرېدونکی خدمتونه وکړل او خپل ټول کوښښ ئې دې ته وقف کړ چی خپل ملت د ترقی او نوی ژوند پړاؤ ته وخېژوی او خپل هیواد د اقتصاد او علم له

حیثه نور هم پر مخ بوزی .

نوموړی مشر د عربو د یووالی او د قام د خدمت په لار کی د ژوند تر وروستی لحظی پوری کوښښ و نه سپماوه په خپلی فداکاری او ستر صداقت سره یی د یوه زړه سواندی عربی لیډر، محبوب شخصیت وفادار او انسان دوسته انسان نوم او جهانی شهرت وګاټه چی عربان او نور مسلمانان او د نړی ټول سوله او عدالت غوښتونکی انسانان به یی

ټل تر ټله نوم په ښوسره یاد وی .

جمال عبدالناصر په عربی متحد جمهوریت کښی د صدراعظمی او د جمهوری ریاست د شپاړس کلنی دوری په موده کښی خپل هیواد او عربی نړی ته ستر خدمتونه سرته ورسول د یوې خوا یی د صیهونیزم او خارجی استعمار پر ضد کلکه او په نره توره مبارزه وکړه او د بلی خوا یی په دننه هیواد کی لوی اصلاحات منځ ته راوستل او د خارجی

او داخلی لویو مشکلاتو او ستروخنډونو باوجود یی خپله ملی مجادله پر مخ بوته او په آسیا او په افریقا او نړی کی یی د استعمار



پدی عکس کی د سویز د کانال حساسی نقطی چی د مصری عسکرو له خوا ساتلی کیږی لیدلی کیږی

پر ضد او د ملتونو د
آزادۍ په لار کښې خپل
اغیزه ناکه نقش ادا کړ، او

په تیره بیا د عربی، اسلامی
غیر منسلکو او په نظامی
ډلو ټپلو کښې د کلیون نه
کوو ئکو هیوادو تو په قطار

کښې د دغه مرحوم جمهور
رئیس ستری لار ښوونی د
عربی متحد جمهوریت
هیواد ته خاص مقام او
ارزښت ورپه برخه کړ.

جمال عبدالناصر په
پوره زړه ورتیا او میړانه
سره د سویز کانال چې د
متحد عربی جمهوریت

مشروع حق دی د زیاتوونو
تویولو او فداکارۍ په
مقابل ملی کړ، د اسوان
عالی بندئی جوړ او د خپل

هیواد او عربی نړۍ لار
ښودنه یی په پوره لیاقت
اهلیت او درایت سره وکړه.
د نوموړی مرحوم د

زمامدارۍ په موده کښې
د افغانستان او متحد عربی
جمهوریت د نیکو کو ښښونو
په نتیجه کښې زموږ دوه

دوست او اسلامی هیوادونه
ډیر سره نژدی شول او
روابطویی په بی سابقه
توګه تقویه او انکشاف وموند

پدی عکس کښې مصری داوطلبانی ښځی د خپل ملی
حاکمیت او شئونو د دفاع د پاره و نظامی خدمت ته
تر شاملیدو وروسته پداسی حال کښې چې د
عسکری تاکتیک او د توپک د استعمال د طریقو زده
کړه کوی لیدلی کیږی

په تیره عربی متحد جمهوریت
ته زموږ د ګران ټولواک دوستانه
سفر او افغانستان ته د جمال
عبدالناصر راتګ د دغو مناسباتو
په ښه کیدو او پراختیا کښې
ستره اغیزه وکړه.

نن د بده مرغه مصر او عربی
نړۍ یو داسی ستر قاید او ملی
لیډر د لاسه ورکړ چې په خپل
بی وخته او ناڅاپه مرګ سره ئی
نړۍ وښوروله چې د هغه ژوند

او نیکه لار ښودنه عربی نړۍ
یووالی، نړیوال عدالت ته را بلل
او د صیهونیزم او استعمار په
مقابل کښې یو لوی سدګ او د
خپلی سمی لار ښوونی او معقول

سیاست له کبله یی اوس خپل او
پردی، موافق او مخالف په مړینه
سخت خواشینی شوی دی.

موږ د هغه ستر میړه او نامتو
عربی مجاهد لیډر روح ته د عاوی
لیږو او په فقدان ئی خپله زیاته

خواشینی څرګندوو او باور لرو
چې د عربی متحد جمهوریت ملت
او عربی نړۍ به د ده پر پل ګامونه
کښیږدی او په خپل یووالی او

ملی مجادلو سره به خپل ملتونه
نیک مرغه لوړ او د هغه
فداکاره مشر روح ښادوګرزوی

ایوبی

سید حسام الدین (حسام)

زموږ اجتماعي اوملي وظیفې

دوظیفې پیژندل او وظیفې ته درناوی دیوې ټولنې دوګړود اخلاقي، اجتماعي او ملي وجایبو څخه شمیرل کیږي.

لکه څرنګه چې دیوې ټولنې وګړي دخپلو شرایطو د تحصیل په دایره کې دیولړ اقتصادي اجتماعي، فرهنګي او نورو وظیفو په سرته رسولو کښې مکلفیت او هر وګړی د خپلې ټولنې او هیواد په وړاندې یولړ ټاکلې اجتماعي اوملي مسئولیتونه لري چې بنایي دخپلې وظیفې د پیژندنې له کبله د هغه په سرته رسولو کښې هاند اودقت وکړي.

البته دلته یواځې او یواځې د وظیفې پیژندنې څخه مقصد په وظیفه کې پابندي اود کار په وخت کښې حاضروالی نه دی، بلکه پروخت باندې دخپلو چارو سم صادقانه او اغیزه ناکه اجرا آت دی.

دمثال په توګه که ددولت یاموسسې یومامور دخپلې وظیفې د مکلفیت په لحاظ پر خپله وظیفه حاضر هم وي خو په ټاکلې وخت کښې خپله وظیفه لکه څنګه چې بنایي سرته ونه رسوي او خپل رسمي وخت چټي او خوشي تیر کړي.

دا نه یواځې داچې داسې مامور دخپلې ورسپارل شوې وظیفې په برخه کښې مطلوب او وظیفه پیژندونکی نه دی بلکه داډول کړنه او چلند د وظیفې دمقدس والي او درناوي له لحاظه یوستر اجتماعي او ملي جرم ګڼل کیږي.

په داسې حساس وخت کښې چه زموږ په ګران هیواد کښې د اساسي قانون اوملي وثیقې دستر او ارزښتونو په رڼا کښې دیوه لړ عام المنفعه او انکشافي پلانو د تطبیق کار شروع او د اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي لویو پرمختګونو لاره په ټینګه اراده دخپل بشري توان په حدود د کښې دعمومي مشکلاتو د حل په غرض په چټکي سره وهي او وینو چې د اجتماعي مفاصدو او نورو لویو مشکلاتو پر ضد چې د رشوت، قاچاق، اختلاس، ناپوهي، فقر او داسې نورو څخه عبارت دي.

دهر لوري څخه دمبارزې کولو بوغونه را پورته شوي دي خو هغه څه چې واقعاً دامبارزه دبریالیتوب ستر سرحد ته رسوي هغه د ټولنې دوګړو ترمنځ د وظیفې د پیژندنې احساس او دواقعي فداکارۍ ضرورت دی.

څکه نن داثابته شوې ده کومې ټولنې چې دوګړو په منځ کښې ئې د وظیفې پیژندنې احساس ناتوانه او یا نوي د هغو ټولنو د اجتماعي، اقتصادي، فرهنګي او سیاسي موجودیت کاروان شاته پاته او تل په بدبختي کښې شپې سباکوي.

نو پرموږ هر یوه افغان لازمه ده چې د خپلې ټولنې او هیواد د ترقي او سمسورتیا لپاره نور هم دخپل وس په اندازه د پوره اعتماد او یووالي په رڼا کښې کار وکړو او د اجتماعي او ملي وظایفو د صادقانه سرته رسولو احساس نور هم په ځانو کښې غښتلی او وروزو چې په نتیجه کښې د ګټور د صالح او وطن دوست غړي په صفت ځان څرګند کړو.

د (نومیالی) ترجمه او تصرف

عصبی نظام

ټول هغه احساسات چی د بدن له لاری ماغزه په خبر یږی ټول هغه فعالیتونه چی د مغزو ارادات ئی له بدنی اعضاوو څخه غواړی ټول هغه اتوماتیکی جریانات چی بدنی ساختمان کی چالان دی

ګرده داسی چاری د عصبی نظام په توسط اجرا کیږی.

عصبی نظام له مختلفو اعصابو څخه جوړ شویدی چی ځنی اعصاب ئی نری او ځنی پنډ ځنی ئی لنډ او ځنی ئی اوږده دی خو په عین حال کښی ګرده یو له بله سره اتصال لری او د بدن وهری برخی ته ئی تارونه ورځغلولی دی که په بدن کی عصبی اتصال لیری کی عصبی اتصال نه وی نو پخپله بدنی اجزأ او د هغو وجود به د طبعی محسوساتو په منځ کښی له یوه مخه سره

بی ربطه هسی وګڼل شی ځکه دا یوازی د عصبی نظام د افرادو وظیفه ده چی د احساس او حرکت دلاری ئی د بدنی هستی و مختلفو موادو ته د یوه منظم موجود حیثیت ورکړیدی.

اعصاب که تجزیه سی نو هر عصب په خپل ځان کښی له کوچنیو مفردا تو څخه جوړ شوی دی چی و هر مفرد ته ئی د بیالوجی په اصطلاح «حجره» ویله کیږی.

د اعصابو هره حجره داسی لیده کیږی لکه مکړی غوندی چی غونډ سر لری او یوه لیف داره لکی په پوری وی، د عصبی حجری سر که خرابسی نو بیا ده جوړیدو امکان نلری لیکن لکی که ئی پری سی یا زخمی سی نو بیا برته په خپله ځان تولیدولای سی.

اکثره د عصبی حجراتو سر و نه یا په مغزو کښی ښخ وی یا د شمزی په حرام مغز کښی خولکی ئی چی تر درو فوټو پوری ئی لا اوږدوالی هم رسیږی په زرو په سلو سره یو ځای سوی وی او پنډی پنډی پلی ځیبی تیاری سوی وی چی د ځینو پنډوالی ئی لا دبټی ګوتی واندزای ته هم رسیږی.

له مغزو او حرام مغز څخه نو د غه اعصاب را شروع شوی وی او د بدن تر بیخی لیری نقاتو پوری ئی خپل تارونه ورسولی وی.

د اعصابو حجرات د بدن د غوښو او نورو موادو له حجراتو سره په مشخصاتو کښی ډیر فرق لری.

د بدن نور حجرات که له کاره ووزی یر ته ئی عوض پیدا کیږی بو له سره څخه تولید کیږی خود اعصابو له حجراتو څخه چی یوه

خرابه سی نو که څه هم پراخ حجرات خپله د ارتباط سلسله د هغی ترشا سره تړی لیکن خبره داده چی عوض نه قبلوی او پدی اساس نو موږ د زوکړی له وخته

څخه یو معین مقدار عصبی حجرات لرو چی کمیږی لیکن زیاتوب نه قبلوی.

اعصاب چی د خپلی وظیفی له مخی وکتل سی نو د اعصابو پر درولو یو اقسامو باندی موږ ښیږو

۱- هغه اعصاب چی د احساس وظیفه اجراء کوی.

۲- هغه اعصاب چی د ماغزو اراده ئی فعالیتونه د دوی په وسیله انجامیږی.

۳- هغه اعصاب چی د بدن اتوماتیکی چاری د دوی په ذریعه پوره کیږی.

د احساس د اعصابو په جمله کښی خوله د ځکلو او خوند معلومولو د پاره دری زره مواد لری چی د هر یوه سلسله د بلی په واسطه د مغزو سره اتصال موندلی دی. غوږونه سل زره سمعی حجرات لری چی د مغزو سره متصلی دی هره سترګه د لیدلو یو سل او دیرش ملیونه نور نقلوی مفردات لری چی تر مغزو پوری د نور د انتقال وظیفه اجرا کوی د لمس د احساس موادونو ټوله بدن سر تر پایه اخستی دی چی دیرش زره موادئی مغزو ته له ګرمی څخه خبر ورکوی او دوه سوه پنځوس زره ئی له یخه څخه اطلاع ورکوی او دغه شانی تقریباً نیم ملیون لمسی نقاط پکښی موجود وی هغه اعصاب چی ارادی حرکات لکه تګ خبری کول ژوول او نور د دوی په وسیله انجام کیږی د خپلو وظایفو لپاره داسی ترتیب لری چی هر فعل چی د مغزو لخوا څخه ئی ودری ته امروسی نو دغه امر د یوه خفیف برقی احتزاز په شانی راشروع کیږی او په اعصابو کښی را تیریږی څو غړی په کار واچوی دغه برقی جریان خورا خفیف وی خو د اعصابو په سلسلو کی داسی مرکزونه سته چی هلته چارچ نسی او قوت اخلی څو چی د مطلب تر ځایه پوری ځان رسوی د دغه حرکت سرعت چی اندازه سویدی نو په یوه ساعت کی د دوه سوه میلو په اندازه دی. کله چی یو حرکت له مغزو څخه راشروع شی نو اعصاب ودی ته ګماری چی عضلات پر فعالیت باندی راولی. خو په عین حال کی یو مرموز قوت هم ورسره سته چی هغه ئی د فعالیت مانع ګرزی یا په بل عبارت که موږ دفټ بال په وخت کی ګام پورته کونو باید پورته کولو ته موئی ادامه پسی ور کولای لیکن د هغه مانع قوت په سبب دغه عمل دوام داره نه اجرا کیږی د خوب په وخت کی دغه مانع قوت پر مغزو پوره سلطه پیدا کوی ځکه که سړی غواړی چی وځغلی یا چیغی ووهی نو نه ځغستلای شی نه چیغی وهلاسی.

هغه اعصاب چی په اتوماتیکی ډول سره د هضم تنفس، زړه غورځیدنګ او نور داسی اعمالو وظایف اجرا کوی و دوه ډوله ته وېشل سویدی یو قسم ئی «سمپاتیک» بل قسم ئی «پاراسمپاتیک» نومېږی «سمپاتیک» اعصاب اعضا پر فعالیت راولی او «پاراسمپاتیک» ئی فعالیت راګرزوی څو پدې ترتیب سره د حیاتی فعالیت موازینه قائمېږی مثلاً که زړه یوازی د «سمپاتیک» اعصابو تر کنترول لاندی راسی نو به له چابکه یو مخیزه ضربانه څخه ومرګ ته ځان ورسوی او که یوازی د «پاراسمپاتیک» تر لاس لاندی سی نو ټپ ودریږی او ښور به نه ځنی وخوری.

جاری شواهد داسی وائی چی دغه دوه قسمه اعصاب یو کیمیاوی دستګاه ده چی په بدن کی کیمیاوی تولیدات کوی.

سمپاتیک اعصاب یو ډول مواد تولیدوی (NORADRE NALIN) نومیږ او پاراسمپاتیک چی (ACETYLCHOLNE) نومیږی.

موږ د دغو بیخی کوچنو ټو اجزاؤ په

(پاته په ۹ مخ کی)

ښاغلی «خادم»

د پښتو په تاریخ یوه رڼا

جنبش دی حرکت دی په مغزو د پښتنو کښی
څه نوی فلسفه کمال ته رسی لوړو غر کښی
خادم

مخکښی تر دې چی په مدعا کښی ورګډشم دیوې خبرې ذکر لازم بولم. یوه ورځ په یوه لوی محفل کښی زموږ د وطن مشهور لیکوال او نامتو مفکر ښاغلی صلاح الدین سلجوقی چی په هغه وخت کښی د مطبوعاتو رئیس ؤ،

وویل: «هره وړه غټه خبره چی د هر لیکوال په مغزو کی تېرېږی ښائی چی غور پکښی وکی او قلمبنده ئی کړی. ده وویل: او دا ځکه چی د دنیا ډېری لوئی لوئی نظریې او مسلکونه په ابتداء کښی

همدغسی وړې وړې خبرې وې، چی اکثراً به خلکو پرې خندل!» پښتو ژبه ډېر اوږد او ډېر لرغونی تاریخ لری

دا تاریخ دومره اوږده سابقه لری چی ممکنه ده ډېر د علم او پوهې ځاوندان د دغسی خبرو په اورېدو هیڅ ملتفت نه شی او باسنده ئی وګڼی.

مګر دا عجبه خبره ده هماغسی چی قدرت د کائناتو په کوز او پاس کښی ډېر ډېر رازونه د انسان له لاس وهلو څخه پټ ساتلی ؤ او

ساتلی دی، دغسی برېښی چی یو له دغو رازونو څخه د پښتو ژبه او د پښتنو تاریخ دی پدې باب کښی

تر اوسه چی څه ویل شوی او لیکل شوی دی په سلوکی به دیوه له حیثیته څخه هم کم وی!

قدرت د پښتو ژبه او د پښتنو تاریخ د تیارو اعصارو څخه درونډ او منور عصر ورځو شپو ته پرېښی

وو تر اوسه پښتو ژبه او افغانستان په ودانه نړۍ کښی داسی ؤ لکه یوه لویه پټه خزانه چی د ښامار له سینی لاندی پټه پرته وی، او هیڅون له ډار او ترس نه شی ورنژدی

کیدای. پښتانه پخپله هم د متمدنی دنیا په منځکښی په رنګا رنګ اړیکیو کی نښتی وو، او دا فرصت یی نه موند چی خپل د علم، ادب تاریخ ته مخ ور واړوی اوس

داسی معلومیږی چی پښتنو ته د علم ادب او تحقیق دروازه بیرته کیدونکی ده، او دوی په خپله دنیا په خپلو سترګو ګوری. کوم وخت چی پښتانه د علم او ادب په رڼا د

خپلی دنیا لټون شروع کړ نو لکه چی قرائن او امارات ښکاره کوی عجیب او غریب اسرار او حقایق به را برسیره شی چی نړۍ او نړۍ والو ته به د پوهنی او فرهنګ له مخی

زیاته فائده او ګټه ورسوی او تقریباً نوې دروازی به بیرته کاندی!

دلته ډېری خبری شته چی ټولی په یوه مقاله کښی تر څېړنی لاندی نه شی راتلای

هغه چی زه ئی دلته لیکم خواړم هغه د ښاغلی حسین بخش کوثر غوریا خیل «د پښتو فلالو جیکل تحقیقات» دی. دغو تحقیقاتو کی د حقیقت درڼا لیری لیری څېریکی

له ورایه داسی بریښی لکه په توره شپه کښی چی ډیر لیری په کومه هدیره کښی د کوم شهید په مزار ډیوه لګیږی حسین بخش کوثر غور یا خپل د پاچا خان د کلکو ملګرو څخه دی چی د پیښور په ښار کښی اوسی دی یو زلمی دی چی په نوی علم او مطالعه مجهز دی د تربیت او پښتنی ثقافت د پختګی له خوا همدومره کافی ده چی سړی ووایی د پاچا خان دلاری ټینګ ملګری دی.

کوثر په خدائی خدمتګاری یا په بل عبارت د لوی پښتون مجاهد خان عبدالغفار خان په پل تلو باندی څو څو ځله بندی او قید شوی دی سختی او ناخوالی یی ګاللی دی. او لکه او سپنه چی توده او په پلکونو ووهل شی، او سپنخړی تری لاړ شی او خالصه فولاد وګرځی، کوثر غور یا خپل د غسی شخصیت موندلی دی: پښتو، پښتونولی او د پښتون تاریخ د خدائی خدمتګارو د مرام مهم جزء دی. ښاغلی کوثر په بند او زندان کښی خپل ماغزه د پښتو په فلالوجی او تاریخ باندی ستړی کړی دی کوم وخت چی د اښکلی او پوخ پښتون زلمی له یو اوږد بند څخه راخلاص شو نو پخوانی سرخ پوش حسین بخش نه ؤ دا پیره ئی د پښتنو د ژبی، تاریخ او زړو طلائی افتخاراتو نو یه جوغه په سر لرله. او د پښتو ژبی یو بی مثاله مجتهد او فلالوجست ؤ ده په بندیخانه کښی د پښتو د فلالوجی په باب خپل تحقیقات څه نه څه لیکلی وو او چی خپلو ملګرو او د پښتون او پښتو عاشقانو ته ئی وښودل نو هغوی ورته حیران شول او اکثر وو ویل «د کوثر په لاس پښتو نخوا یوه بی مثله خزانه ورغلی ده.»

د کوثر خبری او لیکنی لکه مرغلری چی له سینده راوایستل شی له خبره پورته پښتنو ته راورسیدی، او دلته ورته هم پوهان د مرغلرو په قیمت قائل شول. د پیښور په ښار کښی د ځینی کورونو ژبه هند کو ده پښتو د مجلس محفل او ادب ژبه ده ښائی چی د کوثر صاحب د ګندی ژبه هم کورنی هند کو او د کوڅی او محفل ژبه پښتو وی. کوثر به په اردو او شاید انګریزی کښی ښه لیکوال وی، مګر ده د خپلو لیکنو او آثارو د پاره پښتو خو ښه کړیده. دی پخپله اعتراف کوی چی زه د پښتو په لیک کښی ښه نه یم. مګر بیا هم وائی چی پښتو زما مورده او یوازی زما نه ده د انسانیت د لویو لویو ټبرونو مورده نو ځکه زه په پښتو باندی بلی ژبی ته ترجیح نه شم ورکولای. که څه هم پکښی مصلحت هم مضمر وی ده تر اوسه ډیری مقالی او دوه مستقل کتابونه نشر کړیدی د دریم کتاب وعده ئی هم کړیده. د ده د اول کتاب نوم [طوفان] دی. د دویم کتاب نوم ئی [ژوب ویشنه] ده او د دریم نوم به ئی [آدم د پښتون په حیث] وی کوثر ته پاک خدای د پښتو د فلالوجی په باب یو د غسی بصیرت ورکړی دی لکه داروین چی به ویل، «زما دماغ د یو داسی ماشین حیثیت پیدا کړی دی چی له کائناتو څخه کلیات او قوانین راغونډوی.»

کوثر ته د پښتو د فلالوجی پټی غوټی په مرموز صورت سره بیرته کیږی.

پښتو د زرګونو کالو ژبه ده چی ملیونونه عالم ور باندی داسیا په منځ کی ګړیدو او ګړ بیږی. د انسان د تاریخ او تمدن خورا مهیم او سربسته اسرار په دی ژبه کښی تاوشوی پراته دی. او لکه د پښتنو د ځمکی په شان د پښتنو ژبه هم د لعلونو او جواهرو څخه ډکه ده خو که رښتیا ووایونو د اسلام نه مخکښی تاریخ، ادب او آثار یی د حوادثو سیلاب وړیدی او د اسلام نه وروسته بی له

د ۶ مخ پاته

عصبي نظام

ساکښلو ژوند کوؤ چې له دغې کیمیاوي دستګاه څخه پیدا کیږي او تر کار وروسته نو له منځه وزي داسې ګرده فعالیتونه البته د ثانیې په یوزرمه برخه کښې اجراء کیږي.

سره له هغو ګردو حقایقو چې د اعصابو په باب کښې په لاس راغلي دي خو بیا هم محققینو ته لا ډیر سوالونه په مخ کښې پراته دي چې تر اوسه پورې ئې پر حل باندې موفق سوي ندي. مثلاً له هغه قبیله څخه یو دادي چې څرنګه ئوي زوکړي ماشوم شونډې سره پیچي او غذا خوړلو د پاره آماده وي.

که د عصبي نظام په باره کښې موږ په مکمل ډول سره وپوهیدو نو به موږ ودې خبرې ته ورنژدې سو چې د عالم یو عالي معما مودې حل کړي وي او دا به را معلومه سي چې څرنګه دغه د حجراتو مجموعه د انسان په حیث سره ۱۰ ترتیب نیسي چې د انساني موجودیت په ډول سلوک وکړي.

یو څو استثنائي دورو څخه پښتو له دربار او سیاست نه لري پاتې وه. بلکه زمانه دې ځای ته را رسیدلې وه چې خلکو پښتو، ژبه نه ګڼله، او بد بد نسبتونه به ئې ورته کول.

د هیچا دا تمه نه وه چې پښتو کښې به دومره لوی صلاحیت او استعداد، او دومره رموز او اسرار پټ پراته وي. چې څو دیرش څلویښت کاله مخکښې ناڅاپه د پښتنو خپلې ژبې ته پام شو د خیبر او کوږک له تنګیو څخه ښکته پورته پښتانه دي ته راولاړ شول چې خپله ژبه دې د ادب، علم سیاست او قومي ثقافت ژبه وګرزوي. په دې باب کښې هر اصیل پښتون برخه واخیسته چې اوس د پښتو مقام ډیر لوړ ولاړ. رشتیا داده چې د هیڅ قوم هیره شوي ژبه دومره ژر په پښو نه ده دریدلې لکه پښتو نن پښتو د لیک لوست، علم، ادب موسیقي، سیاست، کتاب او دفتر ژبه لاڅه چې د دنیا د انټرنیشنل ثقافت او تاریخي تحقیقاتو دغو بل موږي وګرځید!

د کابل مجلې د ۳۸ کال د ثور په ګڼه کې د ښاغلي کوثر یوه مقاله د «هندوکش» د کلمې د تحقیق په باب نشر شوېده چې ډیره عالمانه او خورا حاوي ده. په دغه مقاله کښې د هند، هندو، سند، سندو انډو، انډیا، کش، کس، کڅ کڅوړه، کشمیر، کاشغر، قاشقار، کسي غر، سلیمان غر او داسې نورو کلماتو باندې داسې منطقي مدلل او مثالي بحث شوي دي او لوی لوی نتیجې اخستل شوي دي چې سړي بې اختیاره ور باندې آفرین وائي. په طوفان کښې د کوثر مدعا داده چې د فلالو جې په تدقیقاتو ثابته کاندي چې د آرین اولین ټاټوبي، لومړنی پاچا مخکښې نظام، تمدن او دین څنګه وو. او کوم شي چې طوفان نوح بلل کیږي چیرته او څنګه ؤ؟ د ګل سرخ میله چې په مزار کښې کیږي او دا رنګه د جنډو میله چې په پیښور کښې کیږي د دوی تاریخي اهمیت او نزدیوالي وښئي. په دې کتاب کښې د پنځوزرو کالو تاریخ، تمدن تهذیب، ثقافت مهاجرتونو او روایاتو دغسې پخوړ

ایستل شوی دی، او داسی نکات پکښی حل شوی دی چی قلب او عقل ورته دلاچاری نه تسلیم کیږی او هیڅ لاره نسی پیدا کولی چی ردیی کاندی! دی په عقل او تاریخی اسنادو دا ثابتوی چی لومړی ځل انسان د پامیر په لوړه پیدا شوی دی.

او همدغه شاؤ خوا مځکی د هندوار پائین ږبو، اقوامو، تهذیبونو او ثقافتونو دخاړپو څو ځای او ځانګو ګڼی.

ښاغلی کوثر په «ژب ویشنه» کښی خورا دلچسپی، نوې او د تحقیق وړ موضوع ګانی وړاندی کړی دی. زه دلته غواړم چی ښاغلی کوثر دده په خپلو افکارو افغان دنیا ته وښیم او له بلی خوا دده نوی تحقیقات مفکورې او خدمتونه دادب او علم ذوقمندانو ته مخکښی کړم چی دوی پکښی څه وائی.

ښاغلی کوثر لیکی چی په ۱۷۶۷ع کښی د فرانس «کوردوکس» نومی پادری لومړی ځل له هندوستانه د فرانس اکاډمی ته یو خط ولیکی او په هغه کښی یی د سنسکرت او لاتینی د لغاتو مشابهت او د ګریمری نژدی والی په باب تفصیلات ولیکل. مګر دغه خط څه تاثیر ونه بخښلو او چا اهمیت ورنکړ. دده د مرګ نه څلویښت کاله وروسته نورو اروپائیانو لکه هرډ، مکس میولر، وهټنی او نورو د سرویلیم جونز د سنسکرت د پلټنی په رڼا کښی خپل تحقیقات چاپ کړل. سرویلیم جونز لومړنی اروپائی دی چی په سنسکرت کښی ئی معلومات لرل. دده په کوښښونو په ۱۷۸۴ع کښی د کلکتی د ایشیاټک سوسائټی بنیاد کښیښودی شو چی مرام ئی د سنسکرت او د یورپ د ژبو مقایسه او مطالعه وه - دا وه د سنسکرت او د اروپائی ژبو د (ژبپوهنی) لومړی رده

سرویلیم جونز د دغه سوسائټی په علمی مجلسونو کښی یو وخت ویلی ؤ چی د سنسکرت، لاتینی او یونانی په منځکښی دغسی یو تطابق موجود دی چی یو ژب پوهاند دنا علاجه ورځی دی نه اړ کیږی چی ووایی:

دادری واړه ژبی د یو بیخ نه راتوکیدلی دی. خو متأسفانه هغه بیخ او مور ژبه او س وره که ده د ګاټی او کلټی او زړی پاړسی یعنی زند او پهلوی په باب هم دا خیال دی چی دا هم د سنسکرت سره سمون خوری لکه چی سرویلیم جونز ویلی ؤ چی د سنسکرت، لاتینی، یونانی ګاټی او کلټی ژبو مور پخوا مړه شویده همدغسی میکس میولر هم وائی چی ما د سنسکرت د پوره مطالعی نه مخکښی دا ګمان کاوه چی سنسکرت ژبه به بنیادی او د نورو ژبو موروی، خو چی غورمی وکړ نورا معلومه شوه چی د سنسکرت ژبی مور یوه بله

داسی ژبه ده چی په هغی کی مادرته (مور: MOER) وائی خوافسوس چی هغه نن د دنیا په مخ نه ده پاتی! - مګر دا بیچاره ګان څه پوهیدل چی دغه مور لاتر اوسه ژوندی

او په قوت کښی ده!؟

د پورته خبرونه خودا څرک لګی چه د هندو اروپائی ژبو مور مړه نه ده ژوندی ده

مګر دلته یوه بله کشاله پیدا کیږی چی ښه دا کوم ځای او کوم ټاټوبی ؤ چی هلته

هندی ارین، یونانیان لاتینی قومونه ګات او کلټی ولسونه یو ځای اوسیدل چی هلته دا ټول یو قام حسابیدو او یوه ژبه ئی لرله چی د هغی نه دغه پورته ټولی ژبی جوړی

شوی، او وزیږیدی!! کوثر صاحب د دغه کشالی پریکړه داسی کوی چی وایی: د میلاد نه د شپږنیم زره کاله مخکښی دا ټول قومونه په یو ځای او

یوهیواد کښې اوسیدل دغه ځای په تکې معلوم ندی. خوله تحقیقاتو او پلټونو وروسته دومره خبره جوته ده چې دا ځای د بلخ یا د بلخ اود آمو د سرچینې په منځ کښې تقریباً د بدخشان په حوالې کښې کوم ځای ؤ. د کوثر په خبرو کښې چې کوم شی د دقت او غور وړدی هغه دادی چې دی وائي: د کوم وخت چې آریه هندو کش غره ته نه ؤ رسیدلی او په خپل مخکښینی او اصلی ټاټوبی کښې د خپلو نورو ورونو سره یو ځای اوسیدل، هغه وخت دوی ته آریه نه ویل کیدل. بلکه کوم وخت چې دوی په مهاجرت د هندو کش له غره څخه راواوښتل او د غلته ئې دیره ونیوله. نو ځان ئې په اریا سره یاد کړو. زموږ کوثر وائي چې «دا زما دعوی ده او زه به ئې په یو بل کتاب کښې په اثبات ورسوم چې کوم وخت آریه د خپل اصل او بنسټ سره یو ځای د یو نسل په حیث اوسیدل هغه وخت دوی «په ستون»، «پرسون: PRISTIN» فلسطین، «پاستان» «په تون» - «په تان» - پرتون» - «برتون: BRITON» «بتهان» کاله - «کالت: CELT» خالدا و خالدی نه علاوه د پالی د حکمرانی په ورځو کښې «اپه ګان» وغیره نومونو سره یاد یدل» خلاصه داده چې کوم وخت واروپائي قومونه د یو نسل په حیث په یو ځای کښې چې هغه یا بلخ یا د بلخ او سر دریاب په منځکی کوم ځای دی اوسیدل، هلته آریه نه بلل کیدل. هلته دغه نومونه او اطلاقات ؤ چې مخکښې وویل شول، او تر اوسه یې آثار او نښې په پښتو ژبه کښې ښکاره او څرګندې آریه د هجرت نه مخکښې آریه نه بلل کیدل. دا یوه تاریخي غلط فهمي ده چې ډېر خلک ور باندې مبتلا شوي دي. که نه نو د آریه ؤ د هجرت نه مخکښې کوم وخت چې په باختر یا د هغه په شاوخوا کښې پراته ؤ، د (په ستون: پښتون) په نامه یاد یدل او دا ځکه چې د آریه ؤ د هجرت نه مخکښې له دغه ځایه د پښتنو نور ډېر ورونه لېږ دیدلی ؤ، او دوی په خپل ټاټوبی ستانه او پاتې شوی ؤ. او هیڅکله له خپل هیواده نه دی تللی او نه خوزیدلی دی.

کوثر صاحب وائي چې د سمیریانو او سامیانو په مقدسو کتابو کښې چې د کوم طوفان ذکر راغلی دی، هغه طوفان همدا غه دی چې دلته په باختر کښې واقع شوی ؤ. ځکه چې د پارسیانو مقدسه (واره) چې وروسته تري «نوبهار» جوړ شو د بلخ په علاقه کښې د سخي د مزار په ځای کښې وه لکه چې د دې په باره کښې ویل کیږي چې د اوره یما «جمشید» نومی رب النوع ودانه کړی وه چې بیا انګرامینا (شیطان) دیمه په دغه ودانه کړی واره د واورو یو طوفان راوستو او کوم بندګان چې ده پیدا کړی ؤ، ټول ئې ئې ووژل.

چه په دغه واسطه سره جمه (یمه) د نوی واری د جوړولو د پاره سوئیل نمر پریواته خواته ولیږ دیدلو دغه سوئیل نمر پریواته خواوی د پامیر د غره لمنې دی. دغه د افغان، آریه او هندو اروپائین قومونو مولدې دی.

بناغلی کوثر وائي چې د بنګال د تاریخ یو پروفیسر اوس اوس په خپله یوه مقاله کښې لیکلی دی چې د هندو کش غره په څوکه لومړنی انسان ظهور کړی دی. کوثر صاحب وائي چه دا خبره ځکه د توجه وړ ده چه د فرانس لرغون پوهانو د دغو غرو په سمځو کښې څه داسې ایره او سکاره پیدا کړیدی چې د کیمیاوی تجربې له مخې یې عمر شلوزر وکانو ته رسیږی له دغو څخه دا لاس ته راځی چې د غلته انسانی آبادی ډېره پخوا شروع شوی ده او له دې ځایه مهاجرتونه شوی دی. د افغانانو لومړنی ټولی چې د سمیری په نوم یاد یدو د حضرت مسیح د میلاد نه شپږ نیم زره کاله مخکښې د خپل افغانی مولد نه هجرت وکړ چې جنوبی ایران ته

ورسیدو، نو دلته ترې یو ټولی د ګډ روسیا په لار سند ته راکوز شوه او دلته ئې په موهنجو دیرو کښې استوګنه اختیار کړه. دا ټولی د (براهو ئې) په نوم یادیږی اوس هم د «بروهی» په نامه یو قوم د قلات په ریاست کښې سته ددوی ژبه هم په «بروهی» شهرت لری. ددوی بله ټولی چې ګډ روسیا (بلوچستان) ته نه ؤ راغلی دوی ددجلی او

فرات په منځکښې داستړګنی ځای غوره کړو او د نړۍ د ټولو نه زړو تهذیب: «سمیری تمدن» ئې تاسیس کړ سر لیونارډ د اخبره لیکلی ده چې کوم وخت سمریان د تمدن په عروج کښې ؤ هغه وخت مصر وړو وړو خانانو په خپل منځکسی ویشلی ؤ. مدعا داده چې سمیریان او د سند براهویان شپږ نیم زر. کاله مخکښې له میلاده له افغانی ټاټوبی نه په لومړنی ځل لیږېدلی دی. د سمیریانو او براهویانو د هجرت نه

دوه زره کاله وروسته یو بل هجرت هم شویدی دا انشعاب هم له افغانی مرکز نه دوه لاری نیسی یوه لار هغه ده چې د باختر نه جنوبی روس او د کیسپین دریاب په غاړه غاړه وسطی یورپ او د دنیوب دریاب ته رسېدلی ده له دې لاری نه کلټ، سلاوی هلاسی (یونانی) او ټیوټنی څانګی شمالی یورپ، مشرقی روس، او د توری بحیرې په

لارې یونان ته ورسیدی. بله لار د هندوکش نه نمر پریوا ته ډډی ته وه. کومه ډله چې دلته را رسېدلی وه، هغی په ځان د آریانوم کښېښود. او دلته ئې ودانی بنا کړی تر دې چې بیا په دوو برخو وویشل شول. یوه برخه د هندوکش په دروکی قطب لمر پریوا ته هندوستان او جنوبی افغانستان ته لاړو دې نوی ملک ته ئې «آریانا» ووایه. د دغو

خلکو یوه بله برخه د ایران په لاره د باسپورس د آبنا، او د دانیال د دری له لولوری یونان او ډنیوب ته او بیا وسطی یورپ او جنوبی یورپ ته لاړه، له دغه ځایه د ترکیی د جنوبی سواحلو په غاړه غاړه دارمینیا د غرونو په لار توری بحیری او د فرات او د جلی سرچینو ته ورسیده.

دلته د آریایانو د انشعاب په باب یوه بله نظریه هم شته مګر دغه انشعاب ته باید اریائی انشعاب ونه ویل شی. ځکه چې د آریانوم هغه ډلی ځان ته خوښ کړی ؤ چې د افغانی زیږندو ځی نه جدا شوی ؤ او په جنوبی افغانستان او شمالی مغربی هند کښې پراته ؤ. نو کوم مهاجرت او انشعاب چې د افغانی ټاټوبی څخه راساً او مستقیماً

راغلی دی نو دغی ته افغانی انشعاب ویل په کار دی هغه ډلی چې د افغانی ټاټوبی څخه تللی او په دنیا کښې

میشتی شوی دی او هلته ئې ځان ته بیل نوم او نښان او تهذیب او تمدن پیدا کړیدی دا ټول داریا په نامه بلل ندی په کار، بلکه هر یو په خپل

نامه باید وبلل شی او په وړاندی سر کښې ټولو ته افغانان ویل په کار دی دغه

نظریه د مهاجرت قصه داسی بیانوی چې د باختر نه مهاجرت دوو ډولو شروع

کړی ؤ یوه ډله مغرب ته او بله د جنوب شرق خوا ته

روانه شوه لومړی ډله د کسپین په غاړه دیره شوه. مګر ډیر ژر دورشو ګانو د

لټون د پاره په بیلو بیلو ډلو وویشل شول او د یورپ په لویه ځمکه ئې قبضه وکړه له دوی څخه او له ډله د (کیلټ) په نوم یادیده چه د ډنیوب د

دریاب په غاړه ئې ورشوګانی ونیولی. د دوی پسی د ټیوټنیانو ډله را ورسیده او

کیلټیان ئې په مخه کړل او غرب ته ئې ترویلز، آئرلینډ

اوسکاټلینډ پوری وځغلول، اود ډنیوب غاړی ئی تری واخیستی.
اود کسپین دؤلس دریمه ډله «دسلاوی» په نوم یادیږی دی ډلی قطب پلو مخه کړه او په روس ئی قبضه وکړه اود روس نه الیریا پولینډ، بوهیمیا او نورو ځایوته ولاړل. په یونان «هلاسی» قبیلی قبضه وکړه.

په اټلی او جنوبی یورپ یوی بلی ډلی خیټه واچوله او دغلته میشت شول. البته هغه ډله چه له ابتدأ څخه جنوب مشرق ته روانه شوی وه له هندوکشه واوښته او ځان ته ئی آریاوویل او داباسیند په ښکته پورته کښی میشت شول. د آریاد انشعاب پورته دوه نظر یو کښی او له هندوستان دیوزوړ مؤرخ پروفیسر ایشور داس ایم، ای ده او دوهمه دیوانګریز ژبپوهاند ایف جی، او، ایم ای د تحقیقاتو نتیجه ده. مونږ ته دغه دویمه سمه ښکاری. تردی وروسته ښاغلی کوثر ددی خبری سپیناوی کوی چه ښه! هر کله چه پښتو دهند اروپائی ژبو مورده! نودا څنګه کیدای شی چه پښتو دی په اوه اته زرو کالو کښی خپله اصلی بڼه ساتلی وی؟

دی وائی زه هیڅکله دانشم ویلای چه دغه ننني پښتو دی هماغه دزرګونو کالو مخکښی پښتووی. مګر دومره ویلی شم چه په دغه موجوده پښتو کښی دقدیمی او پخوانی پښتو نښی او نښانی په غوره فکر او تعمق سره ارومرولاس ته راتلای شی. دی وائی زموږ په موجوده پښتو کښی دهندو اروپائی دنورو ژبو څخه زیات صلاحیت موجود دی چه دهندو اروپائی ژبو دمور زیاتی نښی علامی او کړه وړه دې موږ ته په لاس راکړی. اودا به هم بیځایه نه وی که موږ همدغی پښتو ته دهندو اروپائی ژبو مور ووایو ځکه چه دمور په کور کښی همدغه ژبه پاتی ده. دفقه اللغه ګریمر او فلالوجی په اساسونو دپخوانی بنیادی «پښتو ادبی» پته په ښه شان ورکوی. اودا ځکه چه ژبی، عادات او رنګونه هغه وخت بدلیږی چه په جغرافیائی محیط کښی تغیر راشی. مګر تر کومه حده پوری چه مونږ پوهیدای شو دهندوکش او پامیر دساحی او لمنو په جغرافیائی وضعیت کښی څه ډیر تغیر نه دی راغلی. هماغه واوری هماغه بارانونه. هماغه لوړ غرونه او هماغه سیندونه، ایلبندونه او یجنی او ګرمی به په تغیر سره موجود وی. نو هیڅ شك بایدونکړی شی «قدیمی پښتو» چی دتولو هندواروپائی ژبو مورده او په خپل زاړه کور کښی پاتی ده. هغی دی خپل پخوانی شان او شوکت ساتلی وی!!!

کابل

دمړوندټولو نه غوره وینا وی

دلوړوالی او ترقی لار په معنوی امورو کښی د وجدان په ندا سره ده که د تاریخ پاڼی وګوری نو تاسی به دا راسره ومنی.
هیڅ قوم بیله کاره څخه ولوړ ځای ته نسی رسیدلای او هیڅ ادعا بیله عمله بی دجوش وخروش څخه په ډکه دنیا کښی دقبلیدووړ نده تجربی ښکاره کړیده چی د تاریخ لویو حوادثو هغه قومونه چی د کار پرقوه ئی تکیه کړی وی ندی مات کړی نو باید کار وشی او سړی مخ ته ولاړ شی
تردی لویه شرمنده ګی نشته چی سړی ګناهکاروی او خپلی ګناهوی په بی پروائی سره اجرا کوی نو یقین وکړی چی ددی غفلت سزا به ووینی او بیا به کت ساز نکړی.

دسپرژ باره:

د انسانانو بیل نژادونه څه ډول تشکیل شوه؟

که موږ د بشري تاریخ وپاڼو ته ګیر سو نو دا به راته څرګنده شي چې د پخوانیو انسانانو ژوند د سیندونو او دریابونو په غاړه کښې تیریدی. او د زمانو په تېر ېدو سره د اقلیمي شرایطو د ایجابا تو سره سم ئې د ژوندانه په مختلفو چارو کې د احتیاج له مخې پرمختګونه حاصل کړه. دوی لومړی کښتګری زده کړه او حیوانات ئې د خپلې ګټې لپاره کورنې کړه. او اوس چې د مځکې پرمخ

ژړپوستي، سور پوستي، سپین پوستي او تور پوستي نژادونه سته. په واقعیت کښې په آسانۍ سره نسو کولای چې د مځکې د مخ ټول خلک پر دغه څلورو نژادونو باندې وویشو. ځکه چې

د زمانې په تېر ېدو سره د انسانانو مهاجرتونو له کبله نژادونه هم یو د بله سره ګډ شویدي چې اوس ډېر خلک په مشکله سره د یوه سړي نژاد خپل ځانته معلومولای شي.

پوهان عموماً د انسانانو جمجمه اندازه کوي او د دغه اندازه کولو له مخې کولای شي چې د هر سړي نژادونه پیدا کړي.

همداډول نوري بیلې لاري هم د نژاد د پیدا کولو لپاره سته. اوس ډېر ته دې موضوع ته راګرځو څرنګه چې ټول له انسانان ولمړ نی انسان یعنې ادم (ع) ته تکیه کوي دغه بیل نژادونه څه ډول منځته راغلل؟

او اوس ولې د مځکې پرمخ دومره زیات نژادونه سته؟ ویلای شو چې یو آلماني وګړي د یوه تور پوستي سره بیخي ډېر فرق لري. ځکه آلماني سپین پوستي او دابل تور پوستي دی.

د آلماني وریښتان کم رنګه اولوی دی مګر د تور پوستي وریښتان تور او لنډ دی. او همداډول دوی د واړه د یوه چینې انسان سره زیات فرق لري. علاوه پردې که موږ ډېر ګیر شو د یوه سړي که اته اولاده وي د هغه د اولادو په رنګ او پوستکي کې ډېرې نخښې موندلای سو خو بیا هم ځینې دلایل سته چې اوس به ئې ذکر کړو.

د اخر ګنده خبره ده چې ټول له انسانان د مشترکو نیکه ګانو اولاد دي که تور پوستي دي او که سپین پوستي، که سور پوستي دي او که ژړپوستي خو دغه نژادونه چې اوس ئې موږ مشاهده کوو هغه ورستي تغیرات دي چې د پخوانیو انسانانو په اولادونو کښې د طبعي او جغرافیائي اوضاعو او د منطقوي شرایطو د سړو او تودوخو په نتیجه کې منځته راغلل.

دا یو طبیعي امر دی چې هر ژوندګړی چې په یوه محیط کښې ژوند کوي مجبوردي چې یا به پخپله د محیط سره سازش کوي، یا به محیط ته تغیر ورکوي او بیله دې دوو حالتونو څخه ئې ژوند پر خپل حال ناممکن دی

نو کله چې لمړنی انسانانو د مځکې پرمخ په مهاجرتونو لاس پورې کړ او د مځکې و بیلو بیلو سیمو ته ئې کوچ شروع کړ او په بیلو بیلو برخو کښې ئې خپل ژوند تیراوه نو هرې ډلې چې په هر ځای کښې ژوند کاوه د اقلیمي شرایطو په لحاظ ئې د هغه ځای د جغرافیائي او طبیعي محیط سره به ئې حتماً سازش کاوه چې د هغه محیط د تاثیر په نتیجه کښې بیل نژادونه د رنګ او پوست پر اساس پیدا شوه.

نوی خیال

رشاد

زړه ته !

آزما دغم زخمی زړه !
وړ دهر ډول زړه سوی زړه !

چی دژوند په دام می اړ کړی — دویری برخی تا ته درکړی
ژوی تل په پریشانی کښی — په تور تم دحیرانی کښی
په هر آن کښی دژوندون ستا — نوی کیږی شوا خون ستا

ستا دی غم شی مبارک زړه !
آزما له شنوخته ډک زړه !

دبیلون پر اور کړیږی — لکه شم سوځی نلیږی
اوردی واخلی زندگی ستا — دا دهر دم ناکامی ستا
هر مطلب در ته عنقا شو — مخ دی یو مخ پر جفا شو

آد تورو وینو غوټی !
ګلوی څو دژوند تروټی ؟

نه دی وکړ له ښادی څه — په دې ژوند کښی آزادی څه
ژوندون مه بولی داغم دی — فقط نول اودی الم دی
هر کړی یاس و هرمان دی — مسمی دژوند (ارمان دی)

آد سوز گداز کوټی زړه
آزما ټوټی ټوټی زړه

عبدالحکم «شیدا»

په حجاب ګل



کله ستاسره سیالی کړی د ګلاب ګل
ستا له شرمه څخه ګرزی په حجاب ګل
د ګل خوورځی دوران دی خزانیږی
له ښانسته څه دلمـــــر نلری تاب ګل
چی د دوبی د ګرمـی چپاو پر راسی
په ابداره کنډاله کښی شی کباب ګل
د سر سرد بیرحمی ئی پاڼی توی سوی
نن دی وینس سبا بیده د مرګ په خواب ګل
د نوکانو په چړو ئی غوڅ قلم کی
یو نفس چی عمر تیر کی په عذاب ګل
د ګل چیری زده خبری چی ئی وکړی
د بلبل د سواله څه ورکړی جواب ګل
ستا ښکلاته ګلاب واړه سجدی کړی
د ښه مخ په مقابل کی دی سراب ګل
نه به ستا د مستو ستر ګو کیف پیدا کړی
که د ټول جهان وچښی شراب ګل
زه «شیدا» پر هغه ګل باندی شیدا سوم
چی په سر کښی د ی ستا یلی د کتاب ګل

ښاغلی «منصف»

فریاد

روغ زړګی می هغه چا کی ټوکی ټوکی
چی ئی خپوری پر جهان دښائست کوکی
پر میدان د امتحان به ور ښکاره کړی
په صندوق کی د ځګر زړه نوکی نوکی
یا وشتلی زړه به هیڅ کله روغ نشی
طبیبان که ئی په سل ځله رپوکی
په کرم ئی علاج وکړه مهربان شه
د درمل چاره ئی شته ستا په دارو کی
د هجران رنځور په هغه صحت مومی
معشوقه که د وصال وعده پرپوکی
کامرانی به په نصیب د هغه چاوی
چی وځان ته ئی بللی وی ملو کی
د فیصر د دار اجادی تر جارشی
عظمت ته ئی دوی ایسی ډیرو ډوکی
د اسنبل و ګل ګلاب دی لاس ترغاړه
که دیار پر سپین زنخ د زلفو څوکی
یا به خوږ کړم د زړه سر ستا په سر وشونډو
یا به خاوری کم په در کی ستا هډوکی
د اجهان لکه زندان شوو (منصف) ته
شته عجیب غوندی تأثیر ستا په جادو کی

زنده ګی دی نور څه نده د ګرو مونو مجموعه ده
واړه در ددی درمان نشته هیڅ دی (کړ) ته پایان نسته
د غم ژوند څه په کار ندی لدی ژوند نه مرګ ډېر ښه دی

(جواب)

ولی مالګی دوړوی بیا
پر پر هار می دوړوی بیا

سر تر پایه درد داغ یم بس د سرو وینو اياغ یم
څه غندی د اخواشینی می د غه ټول او پریشانی می
ما منلی د اخواری ده دا د مینی بیماری ده
ثبات ښائی میړ نوته
خاص بیاډ پر (مینوزړو) ته

ښاغلی محمدعلی «خواجه»

دمینی لېونی

زړه می لېونی شو لېونی ګرځی مجنون سره
اوښکی می سیالی کړی د قلزوم او د جیحون سره

اوښکی می بهېږی که باران د نوبهار دی دا
وینی می د زړه دی که بیدیا کښی لاله زار دی دا
ستا ښائسته مخ دی که د سرو ګلو ګلزار دی دا
خدای دی نظر مکړه هفت رنګی لباس ګلګون سره
زړه می لېونی شو لېونی ګرځی مجنون سره

ستا د عشق صیقل سره می زړه مصقل کړی دی
ستا د مینی درد سره درمان می بدل کړی دی
ګفت د پیر استاد باندی د عشق می عمل کړی دی
شومه لېونی ځکه د مینی د جنون سره
اوښکی می سیالی کړی د قلزوم او د جیحون سره

زړه می ستا د ښی او پاکی مینی مظهر ګاه بوله
سترګی می وخپل ښائسته مخ ته نظر ګاه بوله
خیال می هم د خپل عشق د پاره ګذر ګاه بوله
زړه می دی در کړی د وفا په کلک تړون سره
زړه می لېونی شو لېونی ګرځی مجنون سره

نه چی ئی د حسن په جهان کی د سلطان په شان
زړه کی د «خواجه» ئی داسی خوږ لکه ایمان په شان
مخ ته دی ولاړ په تحیر دی د حیران په شان
سرئی د تسلیم در ته نن ایښی د زنګون سره
اوښکی می سیالی کړی د قلزوم او د جیحون سره

لیکونکی [و]

ښاغلی نعمانی

محترم مولوستونکو موږ خپل یو ملګری چی اختر محمد نعمانی نومیږی تاسو ته در پیژنو ښاغلی نعمانی چی غنم رنګه کشمشی ښه لری دری څلوینت کاله پخوا د کندهار دښار د جنوب په څلور کیلومتری کښی دیخ کاریز د کلی په یوه علمی کورنی کښی زیږیدلی دی دپلار نوم ئی ملامحمد اکبر اود نیکه نوم ئی ملا محمد نعمان دی چی د دری پښته څخه ملازاده دی په پنځه کلنی کی یی د تعلیم په زده کړه د خپل پلار تر نظر لاندی شروع کړی ده لکه څنګه چی دده: کر کتر څخه معلومیږی نعمانی ورور د ژوند ډیری لوړی او ژوری تودی او سړی لیدلی او ډیره وخته د ژوند د سختو مشکلاتو سره مخامخ سوی دی د ډیر بی وسیله ګیو او بیچاره ګیو سره نعمانی

ښاغلی نعمانی

خپل په ژوند کی د انکشاف او پرمختګ لاره تعقیب کړی او د زمانی هیڅ ډول بندیز و نو د ده د لار خنډ نه دی ګرځیدلی د هغو کسانو څخه دی چی خپل ځان ئی په خپله روزلی دی زموږ د غه قلمی ملګری ته د ژوند په دوره کی ډیر مشکلات ور پیښ سوی دی او د ده د غه دیدنی د نوموړی د پلارد مرګه څخه شروع کیږی ښاغلی نعمانی لا (۱۲) کلن ؤ او په اصطلاح ښی او کیڼ لاس ئی لانه ؤ پیژندلی چی د ژوند د کار او زیار ډګر ته داخل سوی دی که څه هم په دغو وختو کی دی د مور او ورونو تر سرپرستی لاندی ؤ خو لکه دی چی وائی د خپل ژوند د دغسی جریان څخه راضی نه ؤ او دیوی مجهولی نیک مرغی آیندی په لټه کی ګرځیدی.

د غه احساس ښاغلی نعمانی دی ته مجبور کړی چی د پلار نیکه پیشه پریږدی او د کتابت او دفترداری په زده کړه بوخت سی چی په لومړی سر کی د یوه عریضه لیکونکی سره شاګردسوی دی ورپسی ئی بیا په مستوفیت کی شاګردی شروع کړی ده چی څه موده وروسته بیا په هغه ځای کی لیکونکی بیا د عسکری مکلفیت د وری تر بشپړ کیدو وروسته د کندهار د ټرانسپورټ د اتحادیی په موسسه کی د

لیکونکی په حیث شامل شویدی بیاد کندهار په ښار والی کی مؤظف سوی اوس دوړیود صادراتی شرکت د محاسبی د مدیر په حیث کار کوی .

ده (۱۲) کاله پخوا واده کړیدی ښاغلی نعمانی یو محبوب سړی هم دی کله چی سړی دده سره په مجلس او صحبت کی مشغول شی دده ضمیر د پاکی او باطنی صمیمیت څخه پوهیدای شی .

دی سر بیره پردی چی د شخصی ژوند او فردی اخلاقو په لحاظ ډیر ارام بیغرضه سړی معلومیږی د اجتماعی مسایلو او اصلاحی انکشافاتو سره زیاته علاقه لری د معارف پراختیا او تعمیم د هیواد د نیم ګړتیا ؤ تکمیل او اجتماعی نواقصو د اصلاح لوی عامل ګڼی .

زموږ نعمانی و رورد خپل همدغه اجتماعی قوی احساس له مخی د نویسندګی او لیکوالی سره هم علاقه پیدا کړیده او کله کله خپل تاوده احساسات د قلم په څوکه باندی راوړی .

دی سر بیره پردی چی ښه نثر او نظم لیکی یو ښه داستان لیکونکی هم دی چی ډیر واقعی داستانونه او خیالی نکلونه په وجود راوړی او له ډیرو کلورا هیسی د دې ځای له خپرونو سره قلمی همکاری کوی کله کله لیدل کیږی چی د دوی داستانونه تراژیدی رنګ لری .

د دوی له آثارو څخه :

د اجتماع په عدالت کی انسانان هغه دی

چی پر توسن د فلك زین بدی محبوبان هغه دی
چی په اخلاص سره خدمت کړی ښه خاصان هغه دی

چی ځان چمتو کړی په ښه نیت سره خدمت ته د کام
بیله شبهی څه ئې منه لوړ انسانان هغه دی

چی اولا د منع کړی د علم او عرفانه څخه
وروسته پښیمان پرخپلو کړووی بدکسان هغه دی

چی په درو کالو کی سم نشی تنظیف نرخ او نوا
د ښاروالی وکیلان نه دی نس ماران هغه دی

پیغلی چی کښینوی په کور کی د پیسو د پاره
پدې ښه پوه شه مونبان او خونخواران هغه دی

چی په ظاهر ئې لباس سم وی هم ښه شان وعنوان
چی وی مضر د جامعی غټ شیطانان هغه دی

چی په ملت کی مزخرف رسم ورواج خوښوی
ماضی پسنده مشران او ښاماران هغه دی

د تزویر لومه چی ئې اینبی د شهرت د پاره
خلك د سمی لاری باسی ګمراهان هغه دی

کوم چی په ژوند او مړینه یادشی په لوړ نوم د اسلام
د اجتماع په عدالت کښی انسانان هغه دی

«نعمانی» والی د اشعار مشاعری د پاره
کی ستر کی پټی کړی نو سهوه ادیبان هغه دی

د عبدالصمد «نصرخواه» ژباړه

ارسطو او دهغه فلسفی معضلی

ارسطو دمقدونیی د
انساورپه کلی کښی په سنه
۳۸۴ ق م میلاد کی زیږیدلی
دی د ده پلار نیکوماک
نومیږی چی دهغه وخت
دمقدونیی دحکمران یعنی
(فلیپ) مخصوص طبیب ؤ
ارسطو وروسته ترهغه چی
لومړنی علوم ئی د خپل

پلار څخه زده کړه په ۱۷
کلنی کښی داتن وښارته
راغی اوهلته د افلاطون
دشاګردانو په ډله کی شامل

شو او پوره شل کاله ئی ددغه
استاد علوم تعقیب کړه او
وروسته ئی د افلاطون

ښوونځی یعنی دفلسفی
آکاډمی ئی پری ښوولهاو
څانته پخپله دمکتب او فلسفی
خاوند شو څرنګه چی پدې
وخت کښی ده علمی اقتدار
او فلسفی شهرت پیدا کړی
ؤ نو ځکه لوی سکندر چی

۲۵ کلن ؤ وده ته دروزنی او
ښوونی لپاره وسپارل شو
او همدغه سبب ؤ چی ارسطو
دفلیپ په دربار کی لار

ومیندله کله چی سکندر دپلار
پرځای کښیناست نو ئی په فتوحاتو
پیل وکړ ځنی وائی چی پدغه ټولو
سفرو او فتوحاتو کی ارسطو د
سکندر ملګری ؤ کله چی بیرته
وطن ته راوګرزیدی نو دنویشتو
یولوی کلکسیون ئی مرتب اوله

ځانه سره یووړ چی وروسته ئی
د (حیواناتو د تاریخ) په نامه یو
معروف کتاب ولیکی مګر ځنی
محققین په دې عقیده دی چی
ارسطو پدغو سفرونو کښی د
دسکندر ملګری نه ؤ سکندر پخپله

دخپل استاد دښوونی سره سم
وارسطو ته یو کلکسیون مرتب کړ
او سمدلاسه ئی ورته لیږه او
ارسطو ددغو لیکنو له مخی د
حیواناتو او نباتاتو په برخه
کښی په پراخه پیمانه معلومات
حاصل کړل۔
د تاریخی قرائنو او نښو څخه

داسی ښکاری چی ارسطو د
سکندر سره دشرق په جګړو او
مسافرتو کښی ګډون نه درلود
او په ټولو دغو وختو کښی په
آتن کښی ؤ او د تفرجګاه په
محله کښی چی په (لیکه ئون)

سره یادیدی یو مکتب
تاسیس کی اوهلته ئی د
فلسفی لوست ورکاوه.
څرنګه چی د ارسطو
فلسفی مکتب د (لیکه ئون)
د تفرجګاه په محله کښی ؤ
نو ځکه د ارسطو مکتب د
مشائیو نو د مکتب په نامه

یادیده خو ځنی بیا دغه
مکتب ددی له امله د مشائی
مکتب په نامه بولی چی
ارسطو به وخپلو شاګردانو
ته د ګرځیدنی او حرکت
په وخت کښی لوست کاوه
ولی ډیرو محققینو په

وړاندی لومړنی احتمال
صحیح ګڼل سویدی.
دغه لوی او لومړی استاد
ترډیرو ایجاداتو، تفکراتو
فلسفی قیمتی آثارو
وروسته د او به په جزیره
کښی په دی تهت سره چی د
نفی و خدایانو ته اعتقاد

نلری په ۳۲۳ ق م میلادی سنه
کښی د ۶۳ کالو په عمر مړ شو
د ارسطو فلسفی لوست دوه
ډوله ؤ یوئی علمی او بل

ئی باطنی ؤ چی اختصاص
ئی د فلسفی پر شاګردانو
اړه درلوده .
ارسطو ډیر کتابونه چی

وروسته به ذکر شی تالیف
کړل دغه کتابونه ده پخپله
نشر نه کړل او دیوی وصیت
نامی له مخی ئی و خپل
شاګرد (ثوفراست) ته

پرینبودل ثوفراست بیا د
ارسطو او خپل لیکلی
کتابونه ویوه بل فیلسوف

ته چی (نله) نومیده پرینبوله
خو وروسته دغه کتابونه د
وراثت په ډول ونورو ناپوهو
وګړو ته ورسیدل چی د

هغوی له خوا په یوه ګونبه
کی کښیښودله شوه .
تر ډیرو کلو وروسته
دغه کتابونه دیوه مستعد

سړی له خوا چی (ایدلیکون)
نومیده رانیول شوه او د
ترمیم وروسته ئی خو نفره

مستنسخین وګمارل چی
نوی نسخی و کمبودونه یو
ته نسخ کړی خو بیا هم دغی
نسخی له خطا خالی نه وی

په هر حال کله چی (سیلا)
د روما دیکتاتور آتن ونیوی
نود (ایدلیکون) کتابخانه
ئی مصادره کړه او ټوله

کتابونه ئی روما ته یووړل
(رودسی اندرونیکوس حکیم)
هم هلته لاړ د استاد پر آثارو ئی
ځنی اجمالونه او لومړی جلد
اضافه کړی او نشر ئی کړه خو
که د ارسطو وډیرو او متنوع
عالیه مسائلو ته چی پدغو آثارو

کښی ذکر شویدی ژوره کتنه
وسی نو حتماً به دا حکم وکړه سی
چی ارسطو د پخوانیو مقتدرینو
او پوهو علماؤ څخه ؤ .
د ارسطو کتابونه تر هغه حده
چی زموږ ولاسو ته رسیدلی دی
په لاندی ډول ښودلای شو .

(۱) منطق یا د مقلون مجموعه
چی اورګانون او د روح مبحث
دی .
(۲) د طبیعیه حکمت دی چی
په اتو جلدو کښی د طبیعت د
مختلفو مسائلو څیړنه کوی او
د سماء مبحث په ۳۸ جلدو کښی

دی د حیوانانو تاریخ د نباتاتو
مبحث یو یو جلد دی .
(۳) ما بعد الطبیعه ۱۴ کتابونه
دی .
(۴) د میکو ماك اخلاق د (مسودم)
اخلاق سیاست یا اقتصاد او
جمهوریت .
(۵) ادبیه قواعد او شعر
یو یو جلد دی خو د دغو کتابو
څخه د اورګانون کتاب ډیر
شهرت لری ځکه د اکثرو منطقی

کتابونو استناد همدغه اثر
دی .
روح علم او منطق
د ارسطو په نظر کښی :
د ارسطو په عقیده بشری
معلومات دوه ډوله دی یو

هغه دی چی بیله واسطی
په مستقیم ډول د حسی تجربو
له مخی حاصلیږی او بل په
واسطه سره دی چی د قیاس
او محاکمی په توګه منځته
راځی خو کوم شیان چی
په احساساتو سره مستقیماً
حاصلیږی هغه جزئی دی

او کلیات په ابا الوسطه سره
ادراك کوو . بشری معلومات
له احساساتو څخه شروع او
وروورو و کلیه معلوماتو
ته رسیږی او هغه نتیجی
چی له دغو معلوماتو څخه
منځته راځی په منطقو سره
را ایستل کیږی . او هغه

لاری چی شبیه حقیقتونه
له حقیقت څخه بیله وی هغه

منطقی قواعد دی یعنی
منطق د علم آله ده او تجربه
د علم د را غونډولو لپاره
لازمی ده علمی ترکیبات او
انکالات په منطقو سره
فهمول کیږی څرنګه چی د
منطقو علم قواعد او قوانین
اثباته وی نو ځکه د مفاهیمو

غیر اثباتی قابل مستند وی که چیری داسی نه وای نو ثبوت شوی دلا ئلو به هم یوه نا نتهائی سلسله تشکیلولای او له هغه څخه به هیڅ نتیجه ولاس ته نه راتلای .

د ارسطو منطق پنځه ډوله ترکیب شوی دی :

[۱] مقولات
[۲] بیان
[۳] تحلیلات
[۴] موضوعات
[۵] محکمه

دارسطو مقولات په لسو برجو یا لسو مقولو ویشل شویدی چی دغه عمل دافکارو یو له بله دتمیز او تفریق لپاره ډیر گټور دی .

لس مقولی پردغه مطابق دی جوهر، کمیت، کیفیت نسبت، مکان، زمان، حال تصرف [ملکیت] فعل، انفعال دمقولاتو سره دکلیاتو بحث چی داور ګانو سره ربط پیدا کوی هم اضافه کیږی

او کلیات عبارت له جنس، نوع فعل عرض او خاصه څخه وی ارسطو نوع او جنس یو ځای مطالعه کوی او دهغه فرق دتعریف په توګه بیانه وی او ویلی دی چی عرض، جنس، کیفیت، خاصه باید مطلقا په یوه کښی ددغو لسو مقولاتو موجود وی ځکه یوه جمله چی ددغو څلورو عنصرو څخه تشکیل شوی وی هغه به حتماً کیفیت جوهر یا بله مقوله دمقولاتو څخه افاده کوی .

دبیان باب متعلق پرقضیه وی او قضیه پخپل ذات کښی دبیان آله ده .

د تحیلاتو لومړنی قسمت قیاس او وروستنی قسمت ئې اثباتی مسئلی شرح کړیدی او ددغه باب په یوه حصه کښی وایی انسان یوازی داستقرار او اثبات پوسیله سره شی زده کولای شی استقراء دجزیی وقائعو څخه ده او اثبات هم داستقرا په سایه کی دکلیه مبادیو څخه منځته راځی او دا چی ولی دا قسمت تحلیل بلل شویدی سبب ئې دادی چی قیاسی مرکبه عناصر په هغه کښی تحلیل کشف او ارائه شویدی او هر باب چی دموضوعاتو عنوان لری په هغه کی بیا داحتمالی او مفروضی دلائلو بحث شویدی خو دمحاکمی باب دری فصله دی او دهغه په دریم فصل کی دمنطق دعلم یوه عمومی خلاصه درج او ځای شویده لنډه داچی دمقولاتو موضوع فکردی او د بیان موضوع حکم دی خو د کتاب نوری حصی داستدلال او قیاس څخه بحث کوی .

دارسطو نظریات دتفکر دطرز په کلیاتو کښی متردده دی او بالعکس وائی چی تفکر دمحسوسه آشیاؤ څخه بلا الواسطه ؤ بلا واسطه هم نشست کوی او دده دغه نظریه پدغه باب کښی کامله یوه احساسی نظریه نه تلقی کیږی ځکه په عین حال کی چی دی هرشی له احساساتو څخه منځته راوړی منکر عاقله بیا دحساب دمبادیو څخه بولی او هغه ته یوه خصوصی وظیفه هم تخصیص وی .

دارسطو په عقیده روح دبدن څخه خارج موجود وی خو ددی لحاظه چی لومړی گمان دی نو دوجود څخه بهلوالی نه کوی او متعضی جسم هم مقدم تره دی په بل عبارت روح دژوند لومړی قاعل دی او په وجود کی چی هر څو مره وظیفی موجودی وی په هم هغه اندازه (انتلطیا) هم موجود دی خو یو ددغو انتلطیاؤ څخه دټولو یوالی او مربوطیت تأمینوی [نور بیا]

لیکونکی رهبر فاروقی

مترجم ښاغلی عبدالقدوس [ن]

دالماسو اصلیت او ماهیت

لومړی فصل

دډېری دسکرو او الماسو د ترکیبی اجزاؤ فرق نلرل به تاسی ټوله دحیرت په ورته کښی واچوی مگر هوښ کوی چی حیرت ونه کی د دننی ورځی مدقق پوهان دادواړه یوه ماده او دکاربن دوه صورتونه ئې گڼی دقدرت کارخانه ددوی دهر یوه ترتیب ترخپلی منشأ لاندی جلاجلا په مخصوص ماحول کښی کوی ترهغو پوری چی یو کویله (دډېری سکاره)

او بل الماس کیږی. دا قیمت دارهٔ جوهر (الماس) اوله پلادفرانسی یوه زبردسته عالم چی (لواز) نومیدی تحلیل اونړی ته ئې دهغه پټ اسرار څرگند کړه. گرانو لوستونکو او محترمو مسلمانانو نو! دنړۍ ټوله محققین دخپلو علمی اوساینسی تدقیقاتو په لار کښی دمسلمانانو پخوانی علما دځانو لار ښوونکی او استادان

گڼی او پردی باندی قایله دی چی (دعربو حکما دوی قیمتی جوهر داصلیت او ماهیت لمړنی مکتشفین دی)

زه پدې ځای کښی دمثال پـــه توگه د (داؤد انطاکی) هغه تحقیق چی دالماسی په باب کښی ئې کړېدی دده له مشهوره کتابه څخه (چی تذکرهٔ اولی الباب الجامع للوجب العجائب) نومیږی دمثال په ډول رانقلوم.

انطاکی لیکی چی دالماسو اصلی ماده رصاصی وی فرانس جان سن پخپله ډکشنری کی هم دده دقول په تائید کښی لیکلی دی چی رصاص دوه ډوله دی یو ئې سپین او بل ئې تور: قلعی، قصدیر، او نور دسپنو الماسو له جملی څخه صرف ابار، او شیشن تور الماس دی.

په پخوازمانو کښی ځکه چی دډېری سکاره ډېر کاخت وه نو لدی سببه څخه انطاکی دهغه اصلی ماده درصاص اسود څخه گڼله.

په ابتدا کی پنسلان له همدغی مادی څخه جوړېدل نو له همدی امله عربو پر پنسل باندی د قلم رصاص نوم کښېښودی. پسله ډېری زمانی څخه بیا له کریفایټ څخه د پنسل جوړېده رواج شوه.

کریفایټ درنجو ډېری ته وائی چی له [۹۵] برخو څخه بیا ترسلو برخو پوری کاربن لری دفاضل انطاکی دکتاب عبارت چی دالماسو په باب کښی ئې لیکلی دی دادی:

(ماس با المهمله معروف من نفیس الاحجار تکون لیکون ذهبأ فعاقته رطوبه «غلیضة» وحر مفرط فاشتد یبسه ومادته رصاصیته وموضع الهندی منه سرندیب).

دانطاکی پورتنی بیان ډېر جامع او د تقدیر وړدی که څه هم مختصر او ددې جوهر پر ترکیب او تکون باندی ئې لږ رڼا اچولی ده

مګر سره له هغه اوسنی علما دده د انظریه پدی لار کښی ځانوته مشغل بولی . اکثره له دوی څخه د

ډېری د سکرو د الماسیدود نظریی په لاره کښی مختلفی رائی او بیلی مرضاوی لری چی ځنی له هغو څخه موږ

ګرانو ویونکو ته په لنډ ډول سره راوړو:

لیونارډ د نړی مشهور ساینس دانه چی ډېر عمر ئی ددی مسئلی په شاوخوا کښی فکرونه ځغلولی او عملی تجربی ئی کړیدی

خپله نظریه دا ډول اظهاره وی (الماس په دننه مځکه کښی د کاربن د بخاراتو له جوړید وڅخه پیدا کیږی) پیرته بیاوائی په داسی نده د کاربن پرتولوتوتو باندی داور له تاودلو یدلو څخه

الماس په وجود راځی ځنو له دوی څخه بیا ددی عقیدی سخت مخالفت کړیدی او وائی چی د نباتاتی شیانو له اجتماع څخه تکوین پیدا

کوی ځنی بیاوائی د ګرمی په ګومك سره له کاربن یا کاربونیك اسید څخه جوړیږی .

دی جوهر ته په انګلیسی (ډائمنډ) په لاطینی ئی (ایډمس) په عربی ئی (ماس یا الماس) او په چینائی (چونسیاك) او په لنکائی ژبه ئی (بحرم) او په سانسکریت کښی (بجر) ورته وائی .

(دوهم فصل)

دالماسو سخت توب

دمځکی دمخ ترتولو شیانو الماس سخت او کلك دی که تاسی یود الماسو ټکر واخلی او پر فولادی سندان باندی ئی د فولادو په سټك په هر څومره فوق العاده قوت

سره ووهی ګمان کوم چی سټك او سندان به لا د کاره ووزی مګر ددی فلز د ټوټی پر مخ باندی به د مویك په ډول خال لا پیدا نکی نو هغه وخت به ئی صلابت او

ټینګوالی تاسو ته ښه تر اخر ګند شی مګر پدی ورځو کښی ځنی ساینسی پوهانو د دی فلز د ماتیدلو طریقی په مختلفو

کیمیاوی ډولو سره بیله ضرب او ټکولو څخه میندلی دی د الماسو دزرو کلو پاته کیدو موجب ئی ټینګوالی دی زما ددی مدعاد اثباط قوی دلیل د کوه نور الماس دی .

(دریم فصل)

دالماسو کان

د نړی د اقیمتی جوهر یادغرو په هسکو ککریو کی او یا د مځکی په دننی برخه کی متکوین کیږی کله ئی ټوټی د سندونو په ژورو ځایو کښی هم میندل شویدی هغه وخت چی د غرو پر سرو

باندی زورور بارانونه واوری او د ځاځکو د اجتماع څخه شیلی جوړی او د کښتی وخواته په شرشرا بهدونکی شی د اقیمتی جوهر (الماس) د پورته څخه د ځانه سره را

ګیل او د سیندو په اعماقو او وچو ریګو کښی ئی و غورځوی کنه اصلی د تکوین ځایونه خوئی د خاورو او تیږو طبقی دی د هند باره کته مځکه چی د هر رنګه

جواهراتو منبع ده د الماسو ډېر کانونه لری ټوله محققین پدی باندی قایله دی چی دا قیمتی جوهر (الماس) لمړی وار په هند کښی مندل شوی دی چنانچه ښاغلی (پلی) چی تر حضرت عیسی (۷۹) کاله وروسته

پیدا شویدی زما د قول تائید پدی الفاظو سره کوی: وائي چی رومة الکبرا ته زموږ تر زمانی څو کاله دمخه له هندوستانه څخه الماس رارسېدلی دی دا خو یقېنی او موثقه ده چی له ۱۱۴۱ سنی څخه بیا تر ۱۷۲۸ سنی پوری د الماسو یوازنی مرکز هندؤ په هندوستان کښی خصوصاً د دکن جزیره وزمه د جواهرو زېږونکی او د الماسو د کان خزانه وه د الکنډی ښار خو تر اوسه پوری خلک د الماسو د کانو سرچینه ګڼی د تاریخی دلایلو په اسناد زه دا ثابتومه چی د نړی د جواهرو یو لوی تعداد په دکن کښی میندل شویدی ده د نیا مشهوره الماس چی کوه نور نومېږی او د یو عالم ګیره شهرت لرونکی دی د دکن د بافیضی خاوری یوه زره ده د دې جواهر د زرو کالو زړی افسانی او روایات د نن ورځی معتبره مؤرخین نه منی.

وائی که دا الماس هغه الماس وی چی د (پیر جمله) له کانه څخه را ایستل شوی او بیا شاه جهان ته د نذر په توګه ورکول شوی وي او یا یو جز د هغه وی چی تیور نیر تللی دی او یا بر نیر لنو چی ئی ذکر کړیدی او مغل اعظم ته ئی منسوبه وی نو لومړنی او منځنی تاریخی سلسله ئی د اعتماد وړ نده او پردی باندی محققینو ډېر تنقیدونه کړیدی زه به هم خپله نظریه پدې باره کی د کتاب په پای کی ولیکم خو اوس به په اصل مطلب شروع وکړم.

د کوه نور حالات او پوره کیفیت تر حضرت عیسی (ع) دمخه

ځنی مؤرخین د دې الماس پیدا ښت تر حضرت مسیح (ع) پنځه زره کاله دمخه ګڼی او د خپلو قولو تصدیقونه په لاندی روایاتو سره کوی د کوه نور الماس څو عمر د کشمیر د (بهوری شو) نومی راجا د بازو بند ښائست ؤ کله چی د کوریانو او پانډیانه په منځ کښی جنګ و نښت نوموړی راجا د (چخا بورا) کلاونیوله او د ارجن لور ئی چی پدې کلا کی کلا بنده وه مړه کړه.

ارجن چی د لور په مرګ خبر شو ډیر قهر ورغی او دا دو همه ورځ ئی د غچ اخستلو په مقصد سره له ډېره لښکر پر کوریا باندی یرغل راوړی پسله شدیده جنګه څخه نا ببره د ارجن غشی د راجا (بهور شو) پر بازو باندی ومښتی او هغه ئی جست په هوا کی (دا هغه بازوؤ چی کوه نور د بازو بند په ډول پر تړل شوی ؤ).

لنډه ئی دا چی دا منحوس جواهر - د جولند - قجالی یدشمر نومو پلاس ورغلی.

ځنی بیا وائی دا هغه الماس دی چی راجه کرن به د طلسم د شګون په ډول سره استعمالاوه او پنځه زره کاله دمخه تر نن ورځی چهلی پټن ته نژدی د (ګوداوری) له سنده څخه راکښل شوی ؤ.

زما په عقیده یو له صحیحو روایتو څخه چی د زړه څخه څکه کوی دادی:

دا الماس د (راجا کرما دیته) څخه ؤ چی تر حضرت مسح (ع) ئی ۵۷ کاله وړاندی پر مالوه باندی حکومت کاوه پسله مرګه څخه د هغه کورنی ته د میراث په توګه پاته شو څو هغه ؤ چی پسله ډیر لاس پر لاس کیدو څخه خلجی علاوالدین ته د تارتوک په ډول ورکول شو ځنی محققین بیا وائی د غه الماس د مالوی د راجا ګانو څخه ؤ خو په هر صورت د کوه نور تاریخی قصی له ۱۳ عیسوی پیړی را پدی خوښی وڼی دی.

(د کوه نور د تسمیې وجه)

تر نادر افشار ترمخه دی الماس نوم نه درلوی کم وخت چی ده ته د تارتوک په صورت ورکول شو ډیر روڼ توب اوزیاتی ښکلائی ستر ګی ورتاریکی کړی نوله ډیری خوشحالی ډیری خوشحالی څخه ئی د (کوه نور) الفاظ تر خوله ووتله .

(د کوه نور کان)

جی بی ټیورچی یو فرانسوی سیاح اود الماسو سوداګرو کله چی ئی د دکن د الماسو شهرت داوریدی نو دلیدلو په غرض ئی د دکن ته رارهی شو اوله ۱۲۴۰ (ع) سنی څخه بیا تر ۱۶۵۳ سنی پوری دهمدی مقصد لپاره هلته چکر واهه .

که د کوه نور الماس په رښتیا سره د مغل اعظم یاده د بیان کړو جواهراتو یوه ټوټه ده نود نوموړی سیاح له لیکنی سره سم د (کولور) د کان څخه وتلی ده .

مګر ده ددی الماسو د ایستلو کومه نیټه لدی کانه څخه نده ټاکلی د کوه نور د کان ځای په دکن کښی د کرشنا د سیمند پر غاړه دی چی په (۱۶) درجی) ۲۲) دقیقی او (۳۰) ثانیی عرض البلد او (۸۰) درجی (۵) دقیقی طول البلد کښی وقوع لری ټیورنیر دالیکی چی دا کان له ګول ګندی څخه (۱۳) (۴ پر ۳) کوسه اوله (مسئلی پټم) څخه (۳۶) واټن لری یو بل سیاح چی (ولیم متهولډ) نومیږی او په ۱۶۳۲ عیسوی سنه کی ئی د کن ته

سفر کړیدی داسی لیکی چی د کوه نور کان له (مسئلی پټم) څخه (۱۰۸) انګلیسی میله فاصیله لری مګر نور ګرزیدونکی ئی صحیح واټن سل میله بولی نو په هر صورت دا کان دالکنډی له مشهورو

کانو څخه دی .

ولیم د خپلو مشاهداتو په لړ کی داهم لیکی چی ددی کان د کارکونکو شمیر ویولکو نفرو ته رسیږی د سلطنتی خزانی د کاله یولک ؤشل زره پونډه عایدات راځی .

د کوه نور منځنی تاریخ

د مدقیقینو ډله د کوه نور د تاریخ سلسله داډول بیانوی چی د الماس اصلا د مالویی د راجه کانو څخه ؤ هغه وخت چی خلیجی علاؤالدین په ۱۲۹۴ عیسوی سنه کښی د (یوګډهی) پر راجا باندی چی (رام دیو) نومیدی یرغل ورو ړ او د هغه ټول هال ومال ئی چی جواهرات هم پکښی وه په چوراوچپاو یوو ړ د هغه د جواهراتو په کیڅی کښی یو داتو یا نو مثقالو په اندازه الماس هم ؤ

د علاؤالدین تر مړینی وروسته د سلطان قطب الدین مبارک شاه ټولواکی چندانی پایښت نه کی پیدا او خسرو نومی مریی په ۱۳۲۰ سنه کښی وواژه څه چی ئی کړی وه د هغه عوض ورورسیدی پسله ده څخه نو د خلجیو د کورنی کمبله ټر له شوه او پر مینه ئی څوک پاته نشول

نو هغه ووچی په (۷۲۰) هجری سنه کښی غیاث الدین په پاچهی سره وټاکل شو او د سلطنتی هال ومال په جم کښی د کوه نور الماس ده ته پلاس ورغی کله چی د تغلق د کورنی په مابین کښی د بی اتفاقی اوربل شو ناصرالدین محمود شاه زوی د محمد شاه او نصرت شاه زوی د فتح خان پر تخت و تاج باندی توری سره وکښلی د ملت

امرا او حکام ځنی ددی او ځنی د هغه طرفداره شول دی کورنی جنګو تر هغو پوری دوام درلودی څو امیر تیمور پر هند باندی یرغل راوی .

نور بیا

د خواطر له عربي کتابه څخه

د نجیب ترجمه

د خیانت جزا

داقصه چې په ایټالییه کې پیښه شوې ده واقعي او د کومې مبالغې لرونکې نه ده زه ئې د ګرانوویونکو له پاره په دې ملحوظ د [القلم الحدیدي] له امریکائي مجلې څخه ترجمه کوم چې دوی د خدعه کونکو په خدعه او د مدني دنیا د ځینو بې حیا ښځو په بې وفایي خبر شي .

جیوفاني یو ښکلي ځلمي ؤ چې د ایټالیې د ټاپو وزمې په یوه وړوکي کلي کښې ئې ژوند کاوه د دې کلي او سیدونکي ډېر ساده او له نوي تمدن څخه لیرې واقع وه کرستیانا چې د ښه حسن او زړه وړونکي آواز لرونکي ئجلي وه د جیوفاني شرعي ماندینه کیدله چې له خپل ځلمي میړه سره ئې د غربت په حال کې ژوند کاوه د دنیا په نعمتو او د عیشو عشرت په ژوند کې ئې بیخي چرت نه واهه د دې د اخیال ؤ چې ټول لذایذ او خوندونه زموږ د محقر کور په څلورو دیوالو کښې حصر دي مګر افسوس چې د دوی دې آرام ژوند د یوه مکار او بې عاطفي موسیقار د خیانت او خدعې په اثر سره ډېر دوام پیدا نکړ او ژر د نکبت د بدبختي توره پرده پر وغوړیده دا موسیقار چې د دې مسعود کور آرام ژوند ئې ګډوډ کړ (سینور) نومیدي او د «میلان» دښار او سیدونکي ؤ و نوموړي کلي ته د هوا تبدیلي او استراحت له پاره تللي هلته ئې د هغه ځای له او سیدونکو سره شناخت پیدا شوي ؤ وایي خبیث سینور یوه ورځ د هغه کلي په کوڅو کښې چکرواهه د جیوفاني د کور پر حد ئې د کرستانیا زړه وړونکي او از تر غوږ وشووي غوښته چې دا ساده کلیواله میرمن په چم و فریب سره وغولوي او د خپلې ډلې په غړو کښې ئې شامله کړي نو ئې ډېر ژر د خپلو اجنټانو په ذریعه له هغې سره تعارف پیدا شو او دائي د لسو فرانکو د اجوري په مقابل کښې د یوې سندري ویلو راضي کړه ضمنا ئې د نورو مرستو ټینګه وعده هم ورسره و کړه دې ډېري اجوري او د رنو وعدو د میړه مینه او د شیرین عیال شفقت د کرستیانا له زړه څخه بیخي وایستي او ودې ته آماده شوه چې په یوه مناسب وخت کښې له نوموړي موسیقار سره د میلان دښار ته د میړه او کلیوالو په پټه ولاړه شي

یوه ورځ په داسی حال
کښی چی جیوفانی د ګنیو
دریبلو دپاره د بحیری
وڅنډی ته تللی ؤ دې موقع
غنیمت وګڼله او له موسیقاره
وجینواته ولاړه هلته ئی
د نڅاکالی او څه نورشیان

رانیوله او سمدستی ئی د
هغه په هدایت اولارښود نه
سره د میلان په عمومی تیاتر
کښی خپل آواز ثبت کړ او
د ډانس په (هال) کښی ئی د
ډېرو ځلمیانو زړونه وځان

ته مایل کړه د میلان د ښار
اخبارو په غټو حروفو سره
د دې د هنر نمای او ښه
استعداد تعریف ولیکی او
د دې د شهرت آوازه ئی
د ډېرو وګړو وغوږو ته
ورسوله پسله څو میاشتو
څخه د کرستیانا د څو فلمو
دایکټ اجوره وپنځه ویشت
زرو فرانګو ته ورسیده

سمدستی ئی یو عالیشان عمارت
په کرایه واخیستی او په هغه
کی ئی یو مرفعه او عصری ژوند
شروع کړ دې د عیشو نوش او
فرحت و خوښی ژوند ئی د میړه
او شیرین عیال مینه و محبت
بیخی له زړه څخه وایستی
جیوفانی چی د ګنیو ریبلو

له پاره د بحیری وغاړی ته تللی ؤ
ماښام پداسی حال کښی چی لو
پلنډه ئی په شاوه د خولو ډک
ستړی ستومانه کورته راغی د
زوی ژړائی تر غوږو شوه خیال
وکړ چی ماندینه ئی خوب وړی

ده او د هلک په ژړا خبره نه ده
په زوره ئی څو سوی ناری وکړی
خو چا کوم جواب ورنکړ ګومان
ئی وکړ چی د همسایګانو کره
په مجلس اخته شوی ده مجبوره
شو د کلی ټول کورونه ئی پسی

وغوښتله مګر هیڅ پته ئی معلومه
نه شوه مأیوسه کورته راغی او
دائی یقین شو چی له کوم چا
سره تښتیدلی ده د دې بیوفائی
د حسرت تودی او ښکی په
سترګو کښی ولغړېدلی او په

دی تلاش کښی شو چی سمدستی
کومه داسی ښځه پیدا کړی چی
په اجوره سره ئی ووړو کی زوی
ته تی ورکړی مګر متأسفانه په
دې مقصد سره هم موفق نشو
حیرانی واخیستی په دې حال

کښی ئی ناڅاپه وزانګو
ته فکر شووی لیده چی زوی
ئی د مرګی سوګلی وهی
غم لیونی کړ له ډېره غمه
څخه ئی خنجر له تیکی څخه
راوایستی د مړه زوی جسد
ئی مخاطب کړ او په ډېر حسرت

ئی داسی وویل ای ! زما
ګرانه زویه بیده سه په ابدی
خوب بیده سه تر هغو پوری
به زه آرام ونه کړم تر څو
چی ستاکسات له بیوفا

موره څخه چی داسی
د محرومیت په حال کښی
پریښولی وانخلم د زوی
مرګ له یوی خوا او د

ماندینی بیوفایی له بلی خوا
دی داسی قهرولی ؤ چی
بیله انتقام اخیستلو څخه
ئی دا اور په بل شی سره نه
وژل کیدی.

مجبوره شو د کور ټول
هال و مال ئی خرڅ او په
هغه سره ئی د فونغراف یو
صندوق او د موسیقی څه

ضروری اسباب رانیوی په
کلو او ښارو کښی به ئی د
مختلفو لوبو په ښودلو سره
د ننداره چیانو سات ور
تیراوه کله کله به ئی بیا
در باب په ږغولو او د خوند
وروسندرو په ویلو سره له

خلکو څخه اجوره اخیسته
او دشپې ؤ ورځې ګذاره
به ئې په کوله .
یوه ورځ ئې د میلان په
ښار کښې د خپلې خائینې
میرمنې د کور له مخه سره
د تماشې محفل جوړ کړی ؤ
د خلکو ازدحام او هاى هوى

د هغې توجه دده وخواته
جلبه کړه نو د زړه سوى
له وجه څخه ئې یو موټ پیسې
د نوکـــــر پلاس وده ته
راولیږلې مګر جیوفانی
قبولې نه کړی او دشپې ئې

له یوې نامعلومې لارې
څخه پټ ځان د هغې د خوب
وخونې ته ورساوه او په
یوه ګوښه کښې غلې منتظر
کښېنستې په نیمه شپه کښې

چې ئې ماندینه له تیاتره
څخه ستړی ستومانه په موټر
کښې راغله او د خوب پر
بستر اوږده وغزېـــد له
جیوفانی دا موقع غنمیت

وګڼله له پټ ځایـه څخه
راووتې او له بستره سره
ئې ومخ ته و درېدی داسې
ئې مخاطبه کړه ای! خائینې
حق ناشناسې - دا تالره
مناسبه وه چې زه او خپل

شیرین زوی دی د محرومیت
په حال کښې پرېښوو لو او
تا د پیسو په طمع داسې
ناوړو اعمالو ته چې له
شرافت سره منافی دی لاس

ورته کړای بیوفا! تر عیشو
عشرته پورې دی خپل شیرین
زوی هم هیر کړ او زما د
میړ توب حقوق دی هم

پایماله کړه؟ اوس نو د خپلو
کړو د عوض منتظره اوسه
دائې ووایله او سمدستی
ئې په هغه خنجر چې د
مخه ئې د دې کار لپاره پټ

په ملاکی وهلی ؤ د هغې
کلمې ورباد، باد کړی په
وینو لړلی خنجر ئې څو

واره وڅاټه بیا غلې له هغې
لارې څخه چې راغلې ؤ
بیرته ولاړی .
د قصر خادمان په دغه

سهار له دغې فاجعې څخه
خبر شوه او ذکر ئې په ډیر
تاثر سره په اخبارو کښې
خپور شو جیوفانی د مخه
تر دې چې پلیسان دده د میندلو

په تلاښ کښې شی و مربوطې
اداری ته ولاړی او د خپل
جانی توب اعلان ئې ورته
وکړ او قصه ئې ټکی په ټکی

له سره څخه تر پایه پورې ورته بیان
کړه کله چې قضیه و محکمې ته د فیصلې
لپاره محوله شوه او قاضی په واقعه
پوره خبر شو امر ئې دده په برات
سره صادر کړ او معقتوله ئې شرف
پایمالونکی مجرمه وګڼله .
پای

ټاګور

ای ژوندونه!

ای د ژوندانه بله اوره، راشه
اوروڼا راوړه!
په ښادی او غم کښې ای زما
ژونده، په هر کور کښې ډېوه
بله کړه؟
قوت او نور راوړه!
اطمینان او خوشحالی راوړه!
محبت په کار واچوه، او هر
څه چې تل اوښه دی، هماغه راوړه
ای سراسر بخښښه! د ثواب له
لارې راشه .
خوږ خوب او نیکبخته بیداری
راوړه:

د غم په شپه د مورغوندی ویښ
اوسه!
د ښادی په مجلس کښې خپله
نمه کینه خندامه دریغه وه!
ای د ژوندانه بله اوره .
راشه، راشه اوروڼا راوړه!
ژباړه

دسهار رڼا

دلو یو غرو پر سر دسهار رڼا ښکاره شوه زه چی دشپی په توره تیاره کی ناست وم. ددې روڼا په برکت وپاڅیدم، دا رڼا څنګه ښکلی ده ؟

تیاره او بیده دنیا څنګه دښکلا په ګیڼو ښایسته کوی؟

آسمان دویر تور کالی ورووروله ځانه لیری کوی، او لمن ئې هم هر ګړی سپنیږی !

اوه! کله چی سهار شو، دمرغیو سیلونه هم په فضا کی اتڼونه کوی، دوی چیری ځی ؟

دا چوغکه هم له ځالی څخه راوپاڅیده، چڼ چڼ ناری وهی!

یوه شیبه وروسته به لمر هم راوخیژی انسانان به دخو به راویښ شی .

هو کی! رڼا دبیدود خوب دښمنه ده په رڼا کی څوک بیده نشی پاتیدای .

څښتنه! زه پدی رڼا کی چی ستا داوړ قدر پلوشی پر مځکه پاشی دخپل زړه رڼا ستا حضور ته اهدا کوم .

که دغه رڼاوی سره ګډی شی نو دغه زما تیاره کوټه به نکړی روښانه ؟

پا که څښتنه! له خپلی جاودانی رڼا څخه یوه ډیوه زما په زړه کښی بله که چی ددې شپی په تور تم کښی لاروویئم ؟

او دا تیاره ټاټوبی می راته روښانه شی .

«ح»



دجنګلک فابریکه چې د ګران هیواد د فلزی صنایعو او د موټرانو د ترمیم ستره فابریکه ده پدې فابریکه کې د موټرانو ترمیم، بادی او موبل جوړولو میخانیکی فلز، ساختمانی فلز ریخته ګری او د برینښاد ترمیم آلات ځانګی شته او هم د آکسیجن د استحصال او د بتون په دستګاو مجهزه ده په دی عکسونو کښی تاسو موټر د ترمیم په حال کښی وینئ